# النساء

**مدنی سورة دی ۲۷۶آیتونه لری.**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا
وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ١

**ای انسانانو! د خپل رب( د احکامو له نافرمانی نه) ځان وساتی،هغه رب چې تاسو يې له يوه انسانه پيدا کړی او د هغه له جنسه يې د هغه جوړه( ښځه) هم پيدا کړه او له دې دواړو نه يې بيا زيات شمير نارينه او ښځې ( د ځمکې په مخ) خواره کړل، او د هغه الله له نافرمانی نه ځان وساتی چې د هغه په نوم، تاسو له يوبل نه غوښتنې کوی(او يوبل ته پرې قسمونه ورکوی) او له خپلوانو سره د اړيکو له پرې کولو( ډډه وکړی او د هغوی حقوق په ښه شان اداء کړی، باور ولری چې) الله پاک تاسو څاری( او تاسو خپل اعمال له هغه نه نشی پټولی**

وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَتَبَدَّلُواْ ٱلۡخَبِيثَ بِٱلطَّيِّبِۖ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَهُمۡ إِلَىٰٓ
أَمۡوَٰلِكُمۡۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبٗا كَبِيرٗا ٢

**او يتيمانو ته د هغوی مالونه( کله چې د بلوغ عمر ته ورسيږی ) وسپاری او( خپل) ناپاک او خراب مالونه( د هغوی) له پاکو او ښو مالونو سره مه بدلوئ او د هغوی مالونه له خپلو سره په ګډولو هم مه خورئ ځکه دغه کار لويه ګناه ده.**

وَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تُقۡسِطُواْ فِي ٱلۡيَتَٰمَىٰ فَٱنكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ مَثۡنَىٰ
وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا تَعۡدِلُواْ فَوَٰحِدَةً أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ
أَلَّا تَعُولُواْ ٣

**او که ویرېږئ چې د یتیمو نجونو( سره د نکاح په صورت کې به) عدالت ونشئ ساتلی نو نورې ښځې تر دوو، تر درېو او ان تر څلورو پورې(چې تاسو ته حلالې وی) او ستاسې خوښې وی په نکاح واخلئ خو که ویره درسره وی چې د دغو ډېرو ترمنځ به هم انصاف ونشئ کولی نو په یوه ښځه او هغو وینځو چې تاسو یې مالکان یئ، اکتفا وکړئ، په دې توګه به د ظلم او بې عدالتی نه وژغورل شئ ( او د عدالت او انصاف له حدودو نه به منحرف نشئ.)**

وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ٤

**او د ښځو مهر( بی له دې چې د طمعی سترګې ورته ونیسئ او یا ورباندې احسان بار کړئ د الهی فرضی هدیې او سوغات په حیث یې په پوره اخلاص) سره ورته وسپارئ،خو که هغوی پخپله خوښه درته څه برخه پرېږدی نو په خوښی او تسلئ سره یې (منلی او) خوړلی شئ چې تاسو ته حلال او بې ضرره دی.**

وَلَا تُؤۡتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمۡوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ قِيَٰمٗا وَٱرۡزُقُوهُمۡ فِيهَا وَٱكۡسُوهُمۡ وَقُولُواْ لَهُمۡ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ٥

**او خپل مال او شتمنی چې الله پاک ستاسو د ژوند د سمبالښت لپاره تاسو ته درکړی، ساده ګانو او ناپوهانو ته مه سپارئ، البته د خوراک پوښاک مصرف یې ورکوئ او په نرمه ژبه ورسره خبرې کوئ.**

وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ٦

**او یتیمان( د ژوندانه په چارو او دیانت او اخلاقو کې) تر ازمیښت لاندې ونیسئ تر څو د نکاح عمر ته ورسی( نو که مناسب اهلیت او استعداد مو پکی ولید ) شتمنی یې ورته وسپارئ. د هغوی امانت مال اوپیسې له دې ویرې په بې انصافۍ او اسراف سره مه خورئ چې رالوی به شی او خپل حقوق به درنه واخلی. د یتیم هغه سرپرست چې شتمن وی( د تقوی په نیت دې) د یتیم له مال څخه خپله د سرپرستی حق الزحمه نه اخلی، خو کوم سرپرست چې بې وسه وی د عرف او رواج سره سم دې تری خپله اجوره واخلی. یتیمانو ته د هغوی د**

شتمنی سپارلو په وخت شاهدان هم باید حاضر وی( تر څو په راتلونکی کی کوم اختلاف او دعوه پیدا نشی) او الله تعالی تر ټولو ښه محاسب دی.

لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾

په هغه متروکه شتمنی کی چې مور، پلار او خپلوان یې( له مرګه وروسته) پریږدی، لږه وی که ډیره، نارینه هم برخه لری او ښځینه و ته هم برخه ورکړی. دا د( الله تعالی له لوری) د هر یوه لپاره مشخصه او نه بدلیدونکي برخه ده .

وَإِذَا حَضَرَ ٱلْقِسْمَةَ أُو۟لُوا۟ ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينُ فَٱرْزُقُوهُم مِّنْهُ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٨﴾

او د میراث د ویش په وخت کی که خپلوان، یتیمان او مسکینان حاضر وی نو له میراث څخه ورته یو څه برخه ورکړئ او په خوږه ژبه ورسره خبرې وکړی.

وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا۟ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا خَافُوا۟ عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْيَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾

ټول خلک(په تیره بیا وصیت کوونکی او وصیت اوریدونکی، چې طبعاً) د خپلو هغو کمزورو( او صغیرو) اولادونو په اړه اندیښمن دی، چې د دوی له مرګه وروسته ورڅخه( یتیمان) پاتې کیږی، نو باید د الله تعالی له عذابه وویریږی( او د وصیت کولو او وصیت اوریدلو په وخت کې د ټولو یتیمانو د حقوقو د تامین په باب) حقه او په صراحت خبره وکړی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلْيَتَٰمَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِى بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾

**کوم کسان چې د یتیمانو مالونه په ناروا او تیری سره خوری په حقیقت کې خپلو خیټو ته اور اچوی او زر ده چې د دوزخ سوزوونکی اور ته به وغورزول شی.**

يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ
نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا
ٱلنِّصۡفُۚ وَلِأَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ٱلسُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِن كَانَ لَهُۥ
وَلَدٞۚ فَإِن لَّمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلَدٞ وَوَرِثَهُۥٓ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ ٱلثُّلُثُۚ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ
إِخۡوَةٞ فَلِأُمِّهِ ٱلسُّدُسُۚ مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍۗ ءَابَآؤُكُمۡ
وَأَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُونَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعٗاۚ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ١١

**الله تعالی( په میراث کې) ستاسو د اولادونو ( د حق ) په باب، تاسو ته لاربنوونه کوی چې د نارینه برخه د دوو ښځو د برخې په اندازه ده . که(د مړی وارثان) له دوو نه زیاتې لوڼه وی نو هغو ته دې د میراث د مال له دریو نه دوه برخې ورکړی شی، او که صرف یوه لور وارثه وی نو نیمایی ترکه د هغې ده. که د مړی نه اولادونه پاتی وی نو د ده مور او پلار هر یوه ته دې د ترکه شوی مال شپږمه برخه ورکړی شی او که یې اولاد نه وی او وارثان یې همدا مور او پلار وی نو مور ته دې دریمه برخه ورکړی شی. او که له مړی نه وروڼه او خویندی پاتې وی نو مور به د شپږمی برخې حقداره وی خو وروسته له هغه چه کړی وصیت یې پوره اوپور یې ( که ورباندې وی) خلاص شی. تاسو نه پوهیږئ**

**چې په مور پلار او اولادونو کې کوم یو تاسو ته ډیر ګټور دی. دا برخې الله تعالی ټاکلی دی او بیشکه چې الله تعالی(ستاسو په مصالحو)پوه او د حکمت څښتن ذات دی.**

۞ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ
وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ ۚ مِن
بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۚ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا
تَرَكْتُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِن كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ
فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُم ۚ مِّن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا
أَوْ دَيْنٍ ۗ وَإِن كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ
أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَإِن كَانُوا أَكْثَرَ مِن
ذَٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ ۚ مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ
دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿١٢﴾

**او کومه شتمنی چې ستاسو له میرمنو پاتی کیږی نیمه برخه یې تاسو ته رسیږی په دې شرط چې د هغې اولاد نه وی، که اولاد ولری بیا نو د میراث د مال څلورمه برخه ستاسو حق دی خو د هغې د وصیت له پوره کیدو او پورونو( که ورباندې وی) له اداء کولو وروسته. که تاسو بې اولاده یئ نو ستاسو میرمنې ستاسو نه د پاتې شوې شتمنئ د څلورمې برخې حقدارې دی او که اولاد درنه پاتې وی نو بیا مو میرمنو ته د ترکه شوی مال اتمه برخه رسیږی خو ستاسو د وصیت د پوره کیدو او پورونو( که درباندې وی) له اداء کولو وروسته. او که مړ شوی سړی یا ښځه میرات وی ( یعنی نه اولاد ولری نه یې مور پلار ژوندی وی) خو یو ورور او یوه خور ولری نوهر یوه( خور او ورور) ته شپږمه برخه ورکړی، او که ورونه او خویندی یې له یوه نه زیات وی نو**

تول د میراث په دریمه برخه کی شریک دی، خو د مړی د وصیت د پوره کیدو او پورونو( که ورباندې وی) له اداء کولو وروسته، په دی شرط چې ( وصیت او پورونه) وارثینو ته زیان اړوونکی نه وی. دا د الله احکام دی او الله تعالی( ستاسو په مصلحت او خیر او د وصیت کوونکو په ارادو) ښه خبر او د ( سزا ورکولو په تاخیر کې) زیات زغم لرونکی ذات دی( او غواړی تاسو ته د توبې ښه فرصت په لاس درکړی) .

تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ
جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا
ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٣﴾

دا د الله تعالی له خوا ټاکل شوی حدود دی، څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول د احکامو او اوامرو اطاعت کوی په هغو جنتونو کی به یې ژوند وی چې د ( ونو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) ویالې بهیږی او دوی به په دغو جنتونو کی تل تر تله هستوګن وی او دا په حقیقت کی ستر بریالیتوب دی.

وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدْخِلْهُ نَارًا
خَٰلِدًا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾

او څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول د احکامو له اطاعت نه سر وغړوی او له ټاکل شویو حدودو نه تیری وکړی( د دوزخ) په اور کی به غورزیږی، همدغه به یې دایمی هستوګنځی وی او رسوا کوونکی عذاب هم ورته ټاکل شوې دی.

وَٱلَّٰتِى يَأْتِينَ ٱلْفَٰحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ فَٱسْتَشْهِدُوا۟ عَلَيْهِنَّ
أَرْبَعَةً مِّنكُمْ ۖ فَإِن شَهِدُوا۟ فَأَمْسِكُوهُنَّ فِى ٱلْبُيُوتِ حَتَّىٰ
يَتَوَفَّىٰهُنَّ ٱلْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ ٱللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا ﴿١٥﴾

او ستاسو هغه ښځې چې په فحشا( او بدلمنۍ) اخته وی نو( قاضیان)باید ورباندې څلور تنه( عادل) مسلمانان د ګواهی لپاره( محکمې ته ) راوغواړی، که هغوی یې( په فحشا او بدلمنۍ) د تائید ګواهی ورکړه نو ښځې دې په کورنی ابدی حبس محکومی شی تر هغه چې مړې شی او یا الله تعالی د هغوی په باب نور احکام اعلان کړی.

وَٱلَّذَانِ يَأۡتِيَـٰنِهَا مِنكُمۡ فَـَٔاذُوهُمَاۖ فَإِن تَابَا وَأَصۡلَحَا فَأَعۡرِضُواْ عَنۡهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿١٦﴾

او په تاسو کې چې کوم( سړی او ښځه د فحشا او ناوړو جنسی اړیکو ) مرتکب شی دواړو ته (مناسبه تنبیهی) سزا ورکړی، که توبه یې وویسته او اصلاح شول تاسو تری هم منصرف شی،بیشکه چې الله پاک توبه قبلوونکی او ډیر مهربان ذات دی( دغه أیت د سورة النور په احکامو سره منسوخ شوی دی).

إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَـٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧﴾

د الله تعالی په حضور کې د توبې د قبلیدو حق د هغو کسانو لپاره ځانګړی دی چې سهوا او په ناپوهی کی ګناه وکړی خو بیا سمدلاسه( مخکې له مرګه)توبه وباسی نو الله تعالی یې توبه قبلوی بیشکه چې الله پاک( د خپلو بندګانو په خیراو مصالحو او د توبه کوونکو په نیت) ښه خبر او حکیم ذات دی.

وَلَيۡسَتِ ٱلتَّوۡبَةُ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ إِنِّي تُبۡتُ ٱلۡـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمۡ كُفَّارٌۚ أُوْلَـٰٓئِكَ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٨﴾

او د هغو کسانو توبه نه قبلیږی چې ژوند یې په ګناهونو او ناوړو اعمالو کی تیریږی( خو د توبی جرأت نه کوی) بیا چې یې د مرګ شیبې راورسی( اوږدی اوږدې توبې

وباسی) او وایی اوس توبه کوم. دغه راز د هغو کسانو توبه هم نه قبلیږی چې ژوند يې په کفر کی تیر شی او بیا د هماغه کفر په حال کې له دنیا نه رخصت شی. مونږ د دغو کسانو لپاره دردوونکی عذاب تیار کړی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًاۖ وَلَا
تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُواْ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ
مُّبَيِّنَةٍۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن
تَكْرَهُواْ شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ١٩

ای مسلمانانو! تاسو ته روا، نه ده چې کونډې ښځې د هغوی له خوښې نه غیر، په زور او جبر د میراث د مال په حیث په خپل تصرف کې وساتی، یایې له بل واده نه منع کړئ یا يې بی له کومې څرګندې بد اخلاقی تر هغه وزوروی تر څو د خپل مهر کومه برخه بیرته تاسو ته درکړی.او له خپلو میرمنو سره په صمیمیت او مینه ژوند کوئ، که مو خوښې هم نه وی( صبر وکړئ) کیدی شی یو شی تاسو بد وګڼئ او الله تعالی په هغه کې ستاسو لپاره ډیرې ښیګڼې ساتلې وی.

وَإِنْ أَرَدتُّمُ ٱسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَءَاتَيْتُمْ إِحْدَىٰهُنَّ
قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُواْ مِنْهُ شَيْـًٔاۚ أَتَأْخُذُونَهُۥ بُهْتَٰنًا وَإِثْمًا
مُّبِينًا ٢٠

او که د یوې ښځې په ځای د بلې د اخستلو اراده وکړئ نو لومړنی ښځی ته که مو په پنډونو( سره او سپین او نور) مال په مهر کې ورکړی وی، هیڅ شی ترې بیرته مه اخلی.آیا په ظلم او څرګنده ګناه دغه مال بیرته اخلی؟( د مؤمن له شان سره خو دغه کار نه ښایی)

وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُۥ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ
وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا ٢١

**او څنګه له هغې نه دغه( مال مهر) بیرته اخلئ په داسې حال کې چې له یو بل سره مو د مینې ډک کورنی ژوند تیر کړی او هغې ستاسو نه د نکاح په تړون کې کلکه او پخه وعده هم اخستې ده( چې ښځه له نکاح او جنسی مقاربت نه وروسته د ټول مهر مستحقه ده او خاوند حق نه لری چې د طلاق په صورت کې د هغې له مهر نه څه برخه وغواړی).**

وَلَا تَنكِحُوا۟ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدْ
سَلَفَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَمَقْتًا وَسَآءَ سَبِيلًا ٢٢

**او هغه ښځې په نکاح مه اخلئ چې ستاسو پلرونو( یا پلرنیو او مورنیو نیکونو) په نکاح اخستی وې، څه چې پخوا شوی هغه شوی( خو له دې وروسته) دا یو د شرم وړ، ناوړه کار او بد چلن دی.**

حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُمۡ
وَعَمَّٰتُكُمۡ وَخَٰلَٰتُكُمۡ وَبَنَاتُ ٱلۡأَخِ وَبَنَاتُ ٱلۡأُخۡتِ
وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ
ٱلرَّضَٰعَةِ وَأُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمۡ وَرَبَٰٓئِبُكُمُ ٱلَّٰتِي فِي
حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِي دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمۡ
تَكُونُواْ دَخَلۡتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ وَحَلَٰٓئِلُ
أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ وَأَن تَجۡمَعُواْ بَيۡنَ
ٱلۡأُخۡتَيۡنِ إِلَّا مَا قَدۡ سَلَفَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورٗا
رَّحِيمٗا ﴿٢٣﴾

**په تاسو حرامی کړی شوی دی ستاسومیندې،لوڼی،خویندې،ترورګانې،توړی ګانې،وريرې،خورزې، رضاعی میندې،رضاعی خویندې، ستاسو د ښځو میندې، ستاسو د میرمنو هغه لوڼی چې ستاسو په کورونو کی لویی شوی وی او تاسو یی له میندو سره یو ځای شوی یی( ناروا دی)، خو که یو ځای شوی ورسره نه یی نو(د هغو په پریبنودو او له لوڼو سره یې په نکاح تړلو کی) په تاسو هیڅ حرج نشته. (دغه راز تاسو ته ناروا دی) ستاسو د هغو ځامنو میرمنې چې ستاسو له نسله دی او له دوو خویندو سره په یوه وخت نکاح هم درته حرامه ده، خو څه چې پخوا( د جهالت په وخت کی) شوی هغه مستثنی دی ( او الله تعالی ورباندې تا سو نه نیسی) بیشکه چې الله تعالی ډیر ببنونکی او رحم کوونکی ذات دی.**

================

۞ وَٱلۡمُحۡصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۖ كِتَٰبَ ٱللَّهِ
عَلَيۡكُمۡۚ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمۡ أَن تَبۡتَغُواْ بِأَمۡوَٰلِكُم مُّحۡصِنِينَ
غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَۚ فَمَا ٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِهِۦ مِنۡهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ
فَرِيضَةٗۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا تَرَٰضَيۡتُم بِهِۦ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡفَرِيضَةِۚ
إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٢٤﴾

**او تاسو ته ناروا دی محصنات( مېروښی ښځې چې د بل چا په نکاح کی وی) غیر له هغو جنګی قیدی (مجردو) ښځو چې تاسو يې مالکان یاست. دا د الله تعالی حکم او قانون دی چې تاسو يې باید اطاعت وکړی. او له دغو نه غیر نورلی ښځې تاسو ته روا دی چې د خپلی شتمنی په لګولو سره يې په شرعی توګه د اخستلو کوشش وکړی، له زنا او فحشا نه د ځان ساتلو په نیت، نه د شهوت سړولو لپاره. کله چې له دغو ښځو نه د ازدواجی ژوندانه خوند واخلئ نو د الهی فریضی په توګه ورته شرعی مهر( په ټاکلی موده کی بیله کمی زیاتی ) وسپارئ. البته که د مهریی له ټاکلو وروسته د ښځې او خاوند ترمنځ یو بل ته په مهر کې څه برخه بخشش کیږی نو هیڅ ګناه وربانديې نشته. الله تعالی( د خپلو بندګانو په مصالحو) ډیر ښه پوه او حکیم ذات دی.**

وَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ مِنكُمۡ طَوۡلًا أَن يَنكِحَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ
ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۚ
وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِكُمۚ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذۡنِ
أَهۡلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ مُحۡصَنَٰتٍ غَيۡرَ
مُسَٰفِحَٰتٖ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخۡدَانٖۚ فَإِذَآ أُحۡصِنَّ فَإِنۡ أَتَيۡنَ
بِفَٰحِشَةٖ فَعَلَيۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَى ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ مِنَ ٱلۡعَذَابِۚ
ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ ٱلۡعَنَتَ مِنكُمۡۚ وَأَن تَصۡبِرُواْ خَيۡرٞ لَّكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ٢٥

**او له تاسو نه چې کوم کسان د غربت او تنګلاسۍ په وجه له اصیلو او آزادو مؤمنو ښځو سره د نکاح توان نه لری نو له هغو مؤمنو وینزو سره دې واده وکړی چې ستاسو په ملکیت کې دی. الله تعالی ستاسو د ایمان په حال ښه خبر دی، تاسو ټول د یوې ډلې او یو نسل خلک یاست نو کولی شئ وینزې د هغوی د مالکانو په موافقه په نکاح واخلئ او په ښه معروفه او مروجه توګه د هغوی مهر ورکړئ( ځکه مهر یې د آزادې ښځې په نسبت کم او نفقه یې هم آسانه ده). داسې وینزې د ځان لپاره غوره کړئ چې با عفته او پاک لمنې وی او پټې یارانې یې نه وی کړی. که له شرعی نکاح نه وروسته ورباندې بدلمنی ثابته شی نو سزا یې د اصیلو ښځو د سزا نیمایی( پنځوس دورې) ده. د وینځو سره د نکاح اجازه د هغو کسانو لپاره اعلان شوې چې د ځوانۍ په جذباتو کې له فحشاو نه ځان نشی ساتلی خو که تاسو له زغم نه کار واخلئ نو دا تاسو ته ډیره غوره ده( کیدی شی چې اصیله مؤمنه ښځه مو په برخه شی.) او الله پاک ښبونکی او رحم کوونکی ذات دی.**

يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمۡ وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ
وَيَتُوبَ عَلَيۡكُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٢٦

الله پاک غواړی ( د دین قوانین) تاسو ته تشریح او تاسو د پخوانیو (پیغمبرانو او صالحانو) په لار روان کړی او ستاسو توبه قبوله کړی او الله تعالی ( د خپلو بندګانو له حاله) ښه خبر دی (او هغه قوانین ورته وضع کوی چې د هغوی مصلحت او ګټې پکی نغښتی وی) او حکیم ذات دی( چې د خاص حکمت له مخې د شریعت احکام صادروی.)

وَٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيۡكُمۡ وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ
ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُواْ مَيۡلًا عَظِيمٗا ﴿٢٧﴾

الله تعالی غواړی چې ستاسو توبه قبوله کړی( او د طاعت او عبادت لور ته مو وګرځوی او له ګناهونو څخه مو پاک کړی) خو شهوت پرستان غواړی چې تاسوله حق نه منحرف او په لویه ګمراهۍ کې مو وغورځوی.

يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمۡۚ وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا ﴿٢٨﴾

الله تعالی غواړی( چې د آسانو قوانینو په وضع کولو سره)په تاسو اسانتیا راولی (ځکه پوهیږی چې تاسو د خپلو خواهشاتو په مقابل کی مقاومت نشۍ کولی) او انسان کمزوری پیدا شوی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم
بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ
أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ﴿٢٩﴾

ای مؤمنانو! په خپل منځ کی د یو بل مال او شتمنی په ناحقه( غلا، خیانت، غصب، سود، قمار، او نورو نا مشروعو لارو) مه خوری، خو د خپل منځی توافق او رضایت په اساس تجارتی راکړې ورکړې کاملا روا او ښه کار دی. او ځان وژنه مه کوی( او د یوبل وینی مه تویوۍ) بیشکه چې الله تعالی په تاسو ډیر رحم کوونکی دی.

وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ عُدۡوَٰنٗا وَظُلۡمٗا فَسَوۡفَ نُصۡلِيهِ نَارٗاۚ
وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرًا ﴿٣٠﴾

او څوک چې په ظلم او تیری سره دغه کارونه وکړی( یعنی ځانوژنه وکړی یا په ناحقه د خلکو مال وخوری) مونږ به یې خامخا( د دوزخ) په اورکې وسوځوو، او دغه کار الله تعالی ته ډیر اسان دی.

إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ
وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾

که تاسو له هغو کبیره ګناهونو( شرک،قتل،سحراو جادو، د یتیم د مال ناحقه خوراک، سود،زنا، د زنا تهمت،عقوق والدین، د دروغو له ګواهۍ او د جهاد نه له تیښتې) نه چې تاسو ورځخه منع شوی یاست، ډډه وکړئ، نو مونږ به( پخپل فضل او رحم) ستاسو صغیره ګناهونه له حسابه وغورځوو، او تاسو به د عزت مقام ته ورسوو.

وَلَا تَتَمَنَّوۡاْ مَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بِهِۦ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٞ
مِّمَّا ٱكۡتَسَبُواْۖ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٞ مِّمَّا ٱكۡتَسَبۡنَۚ وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن
فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ﴿٣٢﴾

د هغو نعمتونو او مال او ثروت د لاسته راوړلو لپاره( له حرص او حسد نه ډکې) هیلې او هڅې مه کوئ چې الله پاک پرې ستاسو له ډلې، ځینو ته په ځینو برتری ورکړې ده. د سړیو لپاره د هغوی د کړنو مطابق برخه ده او د ښځو لپاره د هغوی د کړنو سره سم برخه ده( نو د تقوی او نیکو اعمالو په وسیله) له الله تعالی نه د فضل او مهربانۍ ارزو وکړئ.بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو ښه پوه دی( او په هر چا یې د هغه له ظرفیت او استعداد سره سم فضل او مرحمت کړی دی).

وَلِكُلّٖ جَعَلۡنَا مَوَٰلِيَ مِمَّا تَرَكَ ٱلۡوَٰلِدَانِ وَٱلۡأَقۡرَبُونَۚ
وَٱلَّذِينَ عَقَدَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡ فَـَٔاتُوهُمۡ نَصِيبَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ
عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾

د هغه مال او شتمنۍ د ترلاسه کولو لپاره چې مور،پلار او خپلوان یې( له خپل وفات نه وروسته) پریږدی( نارینه او ښځینه) وارثان او حقداران ټاکل شوی دی، او د هغو کسانو برخه هم ورکړئ چې تاسو ورسره ( د

واده، دوستئ او خپلوئ) ترون کړی، بیشکه چې الله تعالی( هر ځای حاضر او ناظر او ستاسو د رفتار او کردار) ښه څارونکی دی.

ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ
وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ
حَٰفِظَٰتٞ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ
فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ
أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيّٗا
كَبِيرٗا ٣٤

نارینه په ښځو باندې سرپرستان او مدیران دی( او پخپله کورنې کې د مشرئ او سرپرستئ حق لری) ځکه الله تعالی ورته(د جسمانی طاقت او د مشکلاتو په مقابل کی د زغم او تدبیر د قوت په ورببنلوسره) په ښځو باندې برتری ورکړئ( او دوی ته دا درونډ مسؤلیت هم ورترغاړه شوی چې د خپلې کورنې د خوراک پوښاک د پوره کولو لپاره خپلې په زیار زحمت ګټلې) پیسې مصرف کړی. نو نیکی او صالحی ښځې هغه دی چې ( د الله تعالی د احکامو او خپل خاوند د اوامرو) تابع وی، د خاوندانو په غیاب کې د هغوی( د عزت، شتمنئ او اسرارو ) ساتونکی وی ځکه الله تعالی ورباندې د هغو د ساتنې سپارښتنه کړی، خو که د ښځې د نافرمانئ او سرکشئ ویره درسره وی( او عملا یې هم ترېووینئ) نو لومړی ورته نصیحت وکړئ( که اصلاح نه شوه) د خوب ځای ورسره جلا کړئ خو که بیا یې هم له لجاجت نه کار واخست په مناسبه اندازه یې( د تنبیه لپاره) ووهئ، خو که دا وار اصلاح شوه او اطاعت ته یې غاړه کیښوده نو د زیات شدت او اذیت لارې ورته مه لټوئ، بیشکه چې الله تعالی د لوړ شان او مرتبې څښتن ذات دی( او ستاسو نه به د هغوی انتقام واخلی.)

وَإِنۡ خِفۡتُمۡ شِقَاقَ بَيۡنِهِمَا فَٱبۡعَثُواْ حَكَمٗا مِّنۡ أَهۡلِهِۦ وَحَكَمٗا
مِّنۡ أَهۡلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصۡلَٰحٗا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيۡنَهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا
خَبِيرٗا ٣٥

او تاسو( ای د شرعي حاکمانو او د کورنیو مشرانو!) که د کومی ښځې او میره ترمنځ د کورنی اختلاف (مسأله
درته راشی) او د هغوی ترمنځ د تعلقاتو د لا خرابۍ( او جلاوالی) ویره موجود وی، نو یو منځګړی د خاوند د
کورنۍ او بل د میرمن د کورنۍ څخه ( د اختلافاتو د رفع کولو لپاره) وټاکئ، که د دواړو منځګړو او سړی او
ښځې) نیتونه پاک او د اصلاح غوښتونکی وی، الله تعالی به هم د هغوی ترمنځ اتفاق راولی، بیشکه چې الله
تعالی( ستاسو په نیتونو او اعمالو) ښه پوه او خبردار ذات دی.

۞ وَٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا وَبِذِى
ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱلْجَارِ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْجَارِ
ٱلْجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلْجَنۢبِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ
أَيْمَٰنُكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ﴿٣٦﴾

او ټول د الله تعالی بندګی وکړئ او هیڅوک او هیڅ شی له هغه سره په خدایی کی شریک مه نیسئ. او له مور
او پلار،خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، خپلوانو( نسبی) ګاوندیو، پردیو( غیرنسبی) ګاوندیو( د سفر او حضر) له
ملګرو او همکارانو، خپلو وینزو او غلامانو سره نیکی او احسان وکړئ. باور ولرئ چې الله پاک لویی
کوونکی او په ځان ویاړ کوونکی کسان نه خوښوی.

ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ
مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا
مُّهِينًا ﴿٣٧﴾

دا هغه کسان دی چې پخپله هم بخیل او کنجوس دی او نورو ته هم په بخل کولو امر کوی او هغه شتمنی او
نعمتونه پټوی چې الله پاک ورته په خاصه لورینه ورکړی دی. مونږ د دغه ډول ناشکرو او نعمت منکرو
کسانو لپاره رسوا کوونکی او سپکوونکی عذاب تیار کړی دی.

وَٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ
وَلَا بِٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۗ وَمَن يَكُنِ ٱلشَّيْطَٰنُ لَهُۥ قَرِينًا فَسَآءَ قَرِينًا ﴿٣٨﴾

او هغه کسان دی چې خپل مال او شتمنی په ریا او تظاهر مصرفوی( تر څو یې خلک وستایی) نه په الله ایمان لری او نه په آخرت.( بلکه صرف د خپل شهرت لیونیان او د شیطان پیروان دی)او څوک چې د شیطان ملګرتیا غوره کړی نو بې له شکه چې همدی یې تر ټولو بد ملګری دی.

وَمَاذَا عَلَيۡهِمۡ لَوۡ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُۚ
وَكَانَ ٱللَّهُ بِهِمۡ عَلِيمًا ٣٩

په دغو خلکو به څه شوی وو که په الله او آخرت یې ایمان راوړی وی ( او د ایمان په رڼا کې یې) له خپلې، الله ورکړې سرمایې نه (په مخلصانه توګه) خیرات او نفقه ورکړی وی، الله تعالی خو د دوی په کړو وړو او ارادو ښه خبر دی( دوی ته به یې لوی اجر ورکړی وی)

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ
مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٤٠

الله تعالی د یوې ذرې په اندازه هم په چا ظلم نه کوی( او اجر یې نه ضایع کوی)، څوک چې یوه نیکی وکړی الله پاک یې ورته څو چنده زیاتوی او برسیره په دې ورته له خپل حضوره ستر اجر او ثواب هم وروبښی.

فَكَيۡفَ إِذَا جِئۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةِۭ بِشَهِيدٖ وَجِئۡنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ
شَهِيدٗا ٤١

( ای پیغمبره په هغه ورځ به) د دې خلکو حال څه وی چې په هر امت باندی د هغوی خپل پیغمبر د ګواه په حیث راوغواړو، او تا هم په دې امت( په تیره بیا په دې تنګ نظرو او سرکښانو) باندې د ګواه په حیث راوړاندې کړو.

يَوۡمَئِذٖ يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَعَصَوُاْ ٱلرَّسُولَ لَوۡ تُسَوَّىٰ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضُ
وَلَا يَكۡتُمُونَ ٱللَّهَ حَدِيثٗا ٤٢

په دې ورځ به کافران او د پیغمبر له فرمان نه سرغړوونکی ( د افسوس لاسونه مروړی) او ارمان به کوی چې کاش ( له دې رسوایې او شرمندګی نه وړاندې ځمکه چاودلی او دوی پکی ننوتی وی) اوپه ( قبرونو یې) ځمکه هواره شوی وی.په دغه ورځ، دوی خپلې هغه خبرې( چې د قرآن او پیغمبر په ضد یې کولې) له الله تعالی نه پټې نشی ساتلی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡرَبُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمۡ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ
تَعۡلَمُواْ مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ حَتَّىٰ تَغۡتَسِلُواْۚ وَإِن
كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ
ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ
بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ٤٣

**اى مؤمنانو! د نيشې په حال کې لمانځه ته مه نږدې کيږئ( جومات ته مه ځئ او لمونځ تل په داسې حال کې کوئ) ترڅو وپوهيږئ چې څه وايئ. او په جنابت کې( لمونځ مه کوئ) تر هغه چې غسل وکړئ، او که ناروغان يئ، يا په سفر کې يئ يا له قضاى حاجت نه راستانه شئ يا ښځو ته نږدې شوى يئ او( د اودس يا غسل لپاره) اوبه پيدا نشئ نو تيمم وکړئ او په پاکه خاوره مخ او لاسونه مسح کړئ، بيشکه چې الله تعالى عفوه کوونکى او ښونکى ذات دى.**

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يَشۡتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ
وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّواْ ٱلسَّبِيلَ ٤٤

**آيا هغو کسانو( يهودانو) ته نه ګورې چې د( آسمانى) کتاب د علم يوه برخه ورکړى شوې( خو دوى د کتاب د متن حقايق پټوى او آيتونه يې تحريفوى او په لوى لاس د هدايت په بيه) ګمراهى اخلى( او د دښمنۍ او کينې له مخې) غواړى تاسو هم د هدايت له مستقيمى لارې منحرف کړى.**

وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِأَعۡدَآئِكُمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَلِيّٗا وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ نَصِيرٗا ٤٥

**الله تعالى ستاسو دښمنان ډير ښه پيژنى او ستاسو لپاره همدا کفايت کوى چې الله تعالى مو سرپرست او ساتونکى دى او همدا درته پوره ده چې الله تعالى مو مرستندوى او ملاتړى دى.**

مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ وَيَقُولُونَ سَمِعۡنَا
وَعَصَيۡنَا وَٱسۡمَعۡ غَيۡرَ مُسۡمَعٖ وَرَٰعِنَا لَيَّۢا بِأَلۡسِنَتِهِمۡ وَطَعۡنٗا فِي ٱلدِّينِۚ
وَلَوۡ أَنَّهُمۡ قَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَا وَٱسۡمَعۡ وَٱنظُرۡنَا لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ وَأَقۡوَمَ
وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٤٦﴾

**په يهوديانو کې يوه ډله داسې ده چې د آسمانی کتابونو په حقايقو کې بدلون راولی( او د خپلې خوښې تأويلات او مفاهيم پکې ورننه باسی،) پيغمبر ته وايی: ستا خبره مو واوريده.(خو بيا ورو پخپل منځ کې وايی): امر دې نه منو.( او بيا پيغمبر ته په بې ادبۍ سره وايی): زمونږ خبره واوره خو نا اوريدلې يې وګڼه( او کاش هيڅ يې وا نه ورې) او د ,راعنا، کلمه (چې اصلی معنی يې ده: په مونږ مهربانی او شفقت وکړه.)خو دوی د دغې کلمې غلط تلفظ کوی( تر څو د پيغمبر بې ادبی وکړی او) په دين کې عيبونه ولټوی. که دوی ويلی وی چې: ستا خبره مو واوريده او د امر اطاعت دې کوو،( او په مونږ مهربانی او شفقت وکړه چې اسلامی احکام زده کړو) نو دا به د دوی لپاره ډيره غوره او بهتره وه، خو دوی کفر ته مخه کړه او له همدې امله وربراندی الله تعالی لعنت ووايه( او د خپل رحمت نه يی ورتېل) او بالاخره په دوی کی ډير لږ شمير کسان په ايمان ټينګ پاتې شول.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ ءَامِنُواْ بِمَا نَزَّلۡنَا مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَكُم
مِّن قَبۡلِ أَن نَّطۡمِسَ وُجُوهٗا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدۡبَارِهَآ أَوۡ نَلۡعَنَهُمۡ كَمَا
لَعَنَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلسَّبۡتِۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ مَفۡعُولًا ﴿٤٧﴾

**ای هغو خلکو چې آسمانی کتاب درکړی شوی و،اوس په هغه کتاب( قرآن) ايمان راوړئ چې مونږ ( د اسلام په پيغمبر) نازل کړی او ستاسو سره د شته کتاب تصديق او تائيد کوی. ( هو- په دې کتاب ايمان راوړئ له هغه عذابه) وړاندې چې مونږ ځينی مخونه مسخ کړو او( له انسانی شکل نه) په بل شکل يې واړوو، يا يې په هغه ډول له خپل رحمت نه بې برخې کړو لکه اصحاب السبت( د شنبې د ورځې حرمت ماتوونکی کب نيوونکی يهوديان) مو چې ملعون اعلان کړل. او( په ياد ولرئ چې) د الله تعالی حکم هرومرو نافذالعمل دی.**

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن
يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾

بيشکه چې الله تعالی د شرک( لويه ګناه) نه ببښي، خو هر چاته چې يې اراده وشي نور ګناهونه ورته ببښي، او څوک چې له الله پاک سره بل شريک ونيسي نو( په الله تعالی يې) لوی دروغ تړلي او د سترې ګناه مرتکب شوی دی.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمۚ بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَآءُ وَلَا يُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾

له هغو کسانو خبر نه يې چې د خپلې پاکۍ او تقوی ستاينه کوي،( ځان ستاينه هيڅ ارزښت نه لري) بلکه دا يوازې الله تعالی دی چاته چې اراده وکړي سپيڅلتيا وربښي( او د تقوی په لار يې برابروي) او په چا باندې د ذرې په اندازه هم ظلم نه کوي.

ٱنظُرۡ كَيۡفَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَكَفَىٰ بِهِۦٓ إِثۡمًا مُّبِينًا ﴿٥٠﴾

وګوره چې( يهوديان د خپلې تزکيې په ادعا کې) څنګه په الله تعالی دروغ تړي( ځانونه د الله ځامن او خپلوان معرفي کوي او وايي غير له يهوديانو او مسيحيانو، هيڅوک جنت ته نشي تللی). د دوی د جرم د اثبات لپاره همدغه ګناه کافي ده( چې کثيف نيت او ناوړه عقيده يې ترې هم) په ډاګه څرګنديږي.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُؤۡمِنُونَ
بِٱلۡجِبۡتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَٰٓؤُلَآءِ أَهۡدَىٰ مِنَ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ سَبِيلًا ﴿٥١﴾

آيا هغو( يهوديانو) ته نه ګورې چې د (آسماني) کتاب د علم يو څه برخه ورکړی شوې خو بياهم په بت او شيطان ايمان لري او د( قريشو) کافرانو په حقله وايي چې دا کسان د مؤمنانو په نسبت د هدايت په ډيره ښه لاره روان دي.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلۡعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾

دا ډله( يهوديان چې قريش مشرکين، د الله پاک د پيغمبر او اصحابو په نسبت غوره او برتر ګڼي) د الله تعالی له لعنت او غضب سره مخامخ او له الهی رحمت نه محروم دي، او څوک چې د الله تعالی له لعنت سره مخ شي، هيڅکله به د ځان لپاره داسې ملاتړی او مرستندوی پيدا نه کړی( چې الهی عذاب ورڅخه دفع کړی).

أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾

**آیا دوی په( دنیوی حکومت  یا الهی) سلطنت کی څه واک اختیار لری؟( بلکه نه یې لری او که فرضاً یې ولری نو د بخل او کینی له امله) به چا ته خلی قدرې هم ور نه کړی.**

أَمۡ يَحۡسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۖ فَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ ءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَءَاتَيۡنَٰهُم مُّلۡكًا عَظِيمٗا ﴿٥٤﴾

**بلکه دوی له خلکو( په تیره بیا  د  اسلام له پیغمبر ،مؤمنانو او عربو سره ) له دې امله کینه پالی چې الله تعالی ورته د خپل فضل له مخې (قرآن، نبوت او نظامی برتری ورکړې ،خوباید پوه شی چې  دا څه نوې خبره نه ده بلکه مونږ ستاسو د نیکه )ابراهیم کورنی ته (چې  یوسف،سلیمان او داود علیهم السلام پکی شامل وو) هم کتاب او حکمت او لویه پاچاهی ورببنلې وه.**

فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن صَدَّ عَنۡهُۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴿٥٥﴾

**نو له هغوی یو شمیر ( چې اهل کتاب دی د اسلام په پیغمبر چې د ابراهیم د کورنی تر ټولو لوړ شخصیت دی) ایمان راوړ او یو شمیر نورو ترې مخ وګرځاوه چې د هغوی لپاره صرف د دوزخ اور کفایت کوی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِنَا سَوۡفَ نُصۡلِيهِمۡ نَارٗا كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُودُهُم بَدَّلۡنَٰهُمۡ جُلُودًا غَيۡرَهَا لِيَذُوقُواْ ٱلۡعَذَابَۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴿٥٦﴾

**هغه کسان چې زمونږ په آیتونو کافر او منکر شوی، زر به یې د دوزخ اور ته وغورځوو، کله چې یې( یو یو) پوستکی وریت شی،( بیا به) نور پوستکی وراغوندو، تر څو د دوامداره عذاب خوند واخلی، بیشکه چې الله تعالی( کافرانو ته د عذاب په ورکولو) لاس بری( او د خپلو فیصلو د عملی کولو) په حکمت ښه پوهیږی.**

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن
تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَنُدۡخِلُهُمۡ
ظِلّٗا ظَلِيلًا ٥٧

**او هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نيک عملونه کوی، هغو جنتونو ته به يې ورداخل کړو چې ( له نعمتونو ډکې) ويالې پکې روانې دی، هم هلته به د تل لپاره اوسی، پاکې سپيځلې ميرمنې به يې په برخه وی او(د نعمت، عزت او سوکالی) تر سيوری لاندې به ورته ځای ورکړو.**

۞إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ
ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا
بَصِيرٗا ٥٨

**(ای مسلمانانو!) الله تعالی درته امر کوی چې امانتونه يې خپل خپل اهل ته وسپاری او که د خلکو دعوې او مسايل درته راوړاندې شی نو د هغوی تر منځ په عدالت او انصاف فيصله وکړی. دا د الله پاک نصيحت دی تاسو ته (چې بايد د زړه په غوږو يې واوری او وپوهيږی چې ) الله تعالی درته ډير لوی او غوره نصيحت کوی( او تاسو ته د نيکی لاره دربنيی) او بيشکه چې الله تعالی( ستاسو د خبرو) اوريدونکی او ( ستاسو د اعمالو) ليدونکی دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن
تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ
ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩

**ای مؤمنانو! د الله تعالی اطاعت وکړی، د پيغمبر اطاعت وکړی او د خپلو مسلمانو چارواکو او قوماندانانو امر ومنی، خو که په کومه مسأله کې مو سره اختلاف پيدا شی نو د الله او رسول اوامرو( قرآن او سنت) ته مراجعه وکړی، که په الله او آخرت ربنتينی ايمان لری. همدغه( قرآن او سنت ته مراجعه د متنازع فيه مسائلو د حل) او نيک عاقبت لپاره تر ټولو ښه او غوره لار ده.**

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ
مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا۟ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا۟ أَن
يَكْفُرُوا۟ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾

**ای پیغمبره! هغو کسانو ته نه ګوری( او تعجب ورته نه کوې) چې وایی په هغه کتاب مو ایمان راوړی چې په تا نازل شوی او په هغو کتابونو مو هم چې ستا نه وړاندې نازل شوی( ایمان راوړی)، خو بیاهم غواړی (خپل مسایل او دعواوې د پریکړې او فیصلې لپاره) د طاغوت محکمې ته وړاندې کړی، په داسې حال کې چې هغوی ته امر شوی چې باید په الله تعالی ایمان ولری او له طاغوت نه منکر شی، خو شیطان غواړی هغوی کاملاً ګمراه( او د هدایت له مستقیمې لارې) کاملاً منحرف کړی.**

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيْتَ
ٱلْمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾

**او کله چې ورته وویل شی چې( د خپلو مسایلو د فیصلې لپاره) د الله تعالی کتاب او پیغمبر ته رجوع وکړی، نو منافقین به ووینی چې په شدت سره درنه مخ اړوی او نور خلک هم ستانه منع کوی.**

فَكَيْفَ إِذَآ أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ثُمَّ
جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَٰنًا وَتَوْفِيقًا ﴿٦٢﴾

**نو حال به یې څه وی چې د خپلو( ناوړو نیتونو او کړو وړو له امله ورته) مصیبت او غم ورسی او بیا تاته رامنډې وهی او قسمونه خوری چې زمونږ اراده او هدف یوازې (د خلکو) خیرښیګڼه او( د امت) اتحاد او اتفاق تامینول دی.**

أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَعْلَمُ ٱللَّهُ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ
وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾

**الله تعالی ته د دوی د زړونو ټول حال( شوم نیت ، کینه او نفاق) معلوم دی نو له خبرو یې تیرشه او( په خوږه او نرمه ژبه ) ورته نصیحت وکړه تر څو خپل نفسونه اصلاح کړی.**

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ
إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ
لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ٦٤

**هر پیغمبر چې مونږ استولی، د الله په حکم یې باید اطاعت وشی( یعنی د پیغمبر اطاعت عیناً د الله تعالی اطاعت دی او د پیغمبر له حکم نه سرغړونه په حقیقت کې د الله تعالی له امر نه سرکشی حسابیږی.) او که دغه ډله چې په ځانونو یې ظلم کړی ( او ستا له فیصلې نه یې سرکشی کړې) تاته راغلی وی، له الله تعالی نه یې ښښنه غوښتې وی او رسول هم د دوی د ښښنې لپاره د دعا لاس پورته کړی وی، نو ورته به ثابته شوی وه چې الله تعالی د دوی لپاره ښه توبه قبلوونکی او رحم کوونکی ذات دی.**

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ
ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ
تَسۡلِيمٗا ٦٥

**خو نه، قسم ستا په رب، چې دوی به تر هغه د رښتینو مؤمنانو په حیث و نه پیژندل شی ترڅو د خپلو لانجو او دعواو د هوارۍ لپاره تاته د حکمیت اختیار ور کړی او بیا ستا په پریکړه او فیصله( که د دوی په زیان هم وی) زړه تنګی او خوابدی نشی او په پوره ډول( ستا حکمیت اوعدالت ته) تسلیم شی.**

وَلَوۡ أَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَنِ ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ أَوِ ٱخۡرُجُواْ مِن دِيَٰرِكُم
مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٞ مِّنۡهُمۡۖ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ فَعَلُواْ مَا يُوعَظُونَ بِهِۦ لَكَانَ خَيۡرٗا
لَّهُمۡ وَأَشَدَّ تَثۡبِيتٗا ٦٦

**که مونږ هغوی ته امر کړی وی چې( د بنی اسرائیلو په شان) یو بل ووژنئ ( یا د جهاد په لار کې ځانونه قربانئ ته وړاندې کړئ) یا له خپلو کورونو ووځئ( او هجرت وکړئ) نو له لږ شمیر کسانو نه غیر به هیچا د حکم منلو ته غاړه نه وی ایښې،( خو الله تعالی ورباندې د خپلې خاصې مهربانۍ له مخې آسانی راوستې) او که هغوی زمونږ (په آسانو)اوامرو او نصایحو عمل وکړی دا به ورته ( د دنیا او اخرت لپاره) ډیره بهتره( او په ایمان باندې) د ثابت قدمۍ او استقرار سبب شی.**

وَإِذٗا لَّأٓتَيۡنَٰهُم مِّن لَّدُنَّآ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٦٧

او مونږ به ورته له خپل لوری عظیم اجر او ثواب ورکړو.

وَلَهَدَيۡنَٰهُمۡ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٦٨

او دوی به د هدایت په مستقیمه لار روان کړو(هغه لار چې وروستی پړاو به یې جنت وی).

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ
ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ
رَفِيقٗا ٦٩

او هغه کسان چې د الله تعالی او پیغمبر اطاعت کوی، ملګرتیا به یې د پیغمبرانو، صدیقینو، شهداو او صالحینو سره وی چې الله تعالی وربانديِ( د ایمان، حسنه اخلاقو او نیکو اعمالو) پیرزوینه کړې او څومره ښه ملګرتیا ده چې د چا په برخه شی.

ذَٰلِكَ ٱلۡفَضۡلُ مِنَ ٱللَّهِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ عَلِيمٗا ٧٠

( دغه ملګرتیا) د الله تعالی له لوری( په دوی باندې) یو فضل او حقیقی پیرزوینه ده او الله تعالی( د فرمانبردارو مؤمنانو په نیتونو او اعمالو) پوه کافی ذات دی( او پوهیږی چې څوک د دغه بخشش او پیرزوینې مستحق دی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ خُذُواْ حِذۡرَكُمۡ فَٱنفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ ٱنفِرُواْ
جَمِيعٗا ٧١

ای مؤمنانو( د دښمن د مقابلې لپاره) تیارسی او مسلح اوسئ( او د زمانی او مکانی شرایطو سره سم) کله د بیلو بیلو ټولګیو( او کنډکونو) په شکل او کله د منظم لښکر( او قوا) په شکل د جګړې ډګر ته سوق شئ.

وَإِنَّ مِنكُمۡ لَمَن لَّيُبَطِّئَنَّ فَإِنۡ أَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةٞ قَالَ قَدۡ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيَّ إِذۡ
لَمۡ أَكُن مَّعَهُمۡ شَهِيدٗا ٧٢

او په تاسو کې( د عبدالله ابن ابي او د هغه د ملګرو په شان  منافقان هم شته چې ستاسو سره د ملګرتیا لافې شافې وهی خو جهاد ته یې ملا ماته ده او) سست سست کیږی( او د نورو مؤمنانو جنګی روحیه او مورال هم کمزوری کوی). که تاسو ته  کوم غم او مصیبت ورسی( نو د پیغور په ډول وایی) خدای راباندې رحم وکړ چې له دوی سره تللی نه یم.

وَلَئِنْ أَصَٰبَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ ٱللَّهِ لَيَقُولَنَّ كَأَن لَّمْ تَكُنۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُۥ مَوَدَّةٌ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ مَعَهُمْ فَأَفُوزَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧٣﴾

او که د الله تعالی رحمت (فتحه او غنیمتونه) مو نصیب شی (نو بیا یې د دښمنانو په شان  د خفګان او کینې اور په زړونو کې بل شی، او سترګې داسې نااشنا کړی  ته به وا چې) ستاسو سره یې نه دوستی لرله او نه پیژندګلوی( او هم د پښیمانۍ لاس مروړی)او وایی: کاش چې مونږ هم له دوی سره جګړې ته تللی وی او دا لوی بری( غنیمتونه ) مو په برخه شوی وی.

۞ فَلْيُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يَشْرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَمَن يُقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٧٤﴾

نو د الله تعالی په لاره کې باید هغه کسان جهاد وکړی چې د دنیا (فانی) ژوند په اخروی( دایمی) نیکمرغی بدلوی. او څوک چې د الله تعالی په لارکې جهاد  وکړی که شهید شی که فاتح ، د آخرت لوی اجر او ثواب به ورته ورکړو.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

او په تاسو څه شوی چې د الله تعالی د رضا او د هغو بې وسه نارینه و، ښځو او ماشومانو د خلاصون لپاره (چې ظالمانو ورباندې د ژوند ساحه تنګه کړې) جهاد نه کوی، هغه مظلومان چې( پخپلو دعاګانو کې) وایی: ای

زمونږ ربه! له دی کلی(ښار) څخه راته نجات راکړه چې اوسیدونکی( چاروا‌کی) یې ظالمان دی.( ای ربه!) له خپل حضوره مونږ ته یو کارسازی وټاکه او زمونږ لپاره یو مرستندوی راواستوه.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱلطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓاْ أَوۡلِيَآءَ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّ كَيۡدَ ٱلشَّيۡطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا ٧٦

هغه کسان چې ایمان یې راوړی د الله تعالی په لارکې جهاد کوی، او هغوی چې کفر یې اختیار کړی د طاغوت په لاره کې جنګیږی، نو تاسو د شیطان د دوستانو او پلویانو په ضد جهاد وکړی، او باور ساتی چې د شیطان دسیسې او پلمې( د الله تعالی د ارادې او ستاسو د ثبات او استقامت په مقابل کې) ډیرې کمزورې او بې بنسټه دی.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ٧٧

ایا هغو کسانو ته نه ګورې( چې د جهاد د اعلان نه مخکی ورته په مکه معظمه کې) ویل شوی وو( چې اوس د جهاد شرایط برابر نه دی نو) له جګړی لاس ونیسی او صرف په خپلو لمونځونو او زکاتونو اکتفا وکړی. خو بیا کله چې ورته( په مدینه منوره کې) د جهاد امر وشو، ځینې کسان یکی له خلکو( مشرکینو) نه داسې وویریدل، لکه څوک چې د الله تعالی (له عذاب) څخه ویریږی، یا له هغې نه هم زیاته( ویره او ترهه وربانډې مسلط شوه) او وایی : ای ربه! جنګ دې رابانډې ولې فرض کړ، لږ څه وخت خو به دې راکړی و( چې د دنیا له نعمتونو مو خوند اخستی وی). ورته ووایه: د دنیا نعمتونه او لذتونه ډیر لږ دی او د آخرت نعمتونه د پرهیزګارانو لپاره ډیر غوره دی او په چا د ذرې په اندازه هم ظلم نه کیږی.

أَيْنَمَا تَكُونُوا۟ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِى بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَإِن تُصِبْهُمْ
حَسَنَةٌ يَقُولُوا۟ هَٰذِهِۦ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا۟ هَٰذِهِۦ مِنْ
عِندِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ
حَدِيثًا ﴿٧٨﴾

**هر چیرې چې یاست، ان که په مستحکمو برجونو( قلاګانو او مانیو) کی هم واوسی،( باور ولرئ چې بیا به هم) مرګ درورسی. که دې خلکو( منافقانو) ته کوم خیر ورپه برخه شی نو وایی دا خو د الله له لوری دی او که مصیبت او زیان ورواوړی نو( تاته ګوته نیسی او) وایی: دا خو ستا له لاسه ده، ورته ووایه: ښه او بد ټول د الله تعالی له خوا دی. آخر په دې خلکو څه شوی چې په خبره نه پوهیږی( او حقیقت نشی درک کولی).**

مَّآ أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ ٱللَّهِ ۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٍ فَمِن نَّفْسِكَ ۚ وَأَرْسَلْنَٰكَ
لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴿٧٩﴾

**(ای انسانه) هره ښیګڼه چې دررسی د الله تعالی پیرزوینه ده او که په غم او مصیبت اخته کیږې نو ستا د خپل عمل ثمره ده.( ای محمده( صلی الله علیه وسلم)! ته مو د ټول بشریت د هدایت لپاره د پیغمبر په حیث مبعوث کړی یې، او (ستا په رسالت باندې) الله تعالی تر ټولو ښه ګواه دی.**

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ وَمَن تَوَلَّىٰ فَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ عَلَيْهِمْ
حَفِيظًا ﴿٨٠﴾

**څوک چې د پیغمبر پیروی وکړی، په اصل کی یې د الله تعالی پیروی کړې، او( څوک چې د پیغمبر له لاربښوونو) انکار وکړی( نو ای پیغمبره!) ستا وظیفه د خلکو څارل او مراقبت نه دی( بلکه ته صرف خلکو ته د الله تعالی د پیغام رسوونکی یې.)**

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُواْ مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ
ٱلَّذِى تَقُولُ ۖ وَٱللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ
وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾

( منافقين خو ستا په مجلس کې ظاهراً) وايی چې ستا اطاعت کوو، خو کله چې ستا له مجلسه ووځی نو يوه ډله يې د شپې په پټو بنډارونو کې ( د خپلو خبرو برعکس) ستا په خلاف تدبيرونه نيسی. الله تعالی د دوی دغه ټولې مشورې او تدبيرونه( د دوی په عملنامو کی) ليکی نو ته يې پروا مه کوه، تل په الله تعالی توکل کوه (او د چارو د جوړښت او سمبالښت لپاره درته) يوازې الله تعالی کافی دی.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا
كَثِيرًا ﴿٨٢﴾

آيا دا خلک په قرآن کی ژور فکر او تدبر نه کوی( او دا حقيقت نه درک کوی) چې که قرآن د الله تعالی نه غير، د بل چا کتاب وی نو په متن کی به يې زيات اختلافات او تناقضات موجود وای.

وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ ٱلْأَمْنِ أَوِ ٱلْخَوْفِ أَذَاعُواْ بِهِۦ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى
ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِى ٱلْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ۗ
وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَٱتَّبَعْتُمُ ٱلشَّيْطَٰنَ إِلَّا
قَلِيلًا ﴿٨٣﴾

او کله چې د امن يا ويرې( فتحی او ماتې) خبر دغو (منافقانو او ضعيف الايمان مسلمانانو) ته ورسی، بی له دی چې کره او ناکره يې معلوم کړی، د هر چا غوږ ته يې رسوی خو څومره به ښه وی که تر هر څه لومړی يې دغه ډول خبرونه، پخپله پيغمبر او اړوندو اهل بصيرت چارواکو ته رسولی( او هغوی ورباندې د خپلی پوهې او بصيرت په رڼا کی څېړنه کړی وی) او که په تاسو د الله تعالی فضل او مرحمت نه وی او د هدايت لاره يې درته نه وی ښودلی نو له لږ شمير نه غير به تاسو ټول د شيطان په لومه کی ښکيل شوی وی.

فَقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفۡسَكَۚ وَحَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ عَسَى ٱللَّهُ
أَن يَكُفَّ بَأۡسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأۡسٗا وَأَشَدُّ
تَنكِيلٗا ﴿٨٤﴾

نو ای پیغمبره! د الله په لار کې وجنګیږه، که یوازې په یو سر یې هم (پروا نشته ځکه تاته د الهی مرستې او برلاسۍ وعده درکړی شوې ده) او ته یوازې د خپل ځان ذمه وار یې، البته مؤمنان د جګړې لپاره وهڅوه تر څو الله تعالی( ستا او ربښتینو مؤمنانو په میرانه) د کافرانو زور او قوت مات کړی.( د کافرانو له زور او شکنجو نه مه ویریږی او باور ولری چې) د الله زور تر ټولو زیات او سزا یې تر ټولو سخته او شدیده ده.

مَّن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةً حَسَنَةٗ يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن يَشۡفَعۡ شَفَٰعَةٗ
سَيِّئَةٗ يَكُن لَّهُۥ كِفۡلٞ مِّنۡهَاۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقِيتٗا ﴿٨٥﴾

څوک چې د خیر او نیکۍ لپاره د خلکو ترمنځ سفارش او منځګړیتوب وکړی نو ثواب او اجر به ورکړی شی، او څوک چې د شر او فساد د جوړولو لپاره سفارش او منځګړیتوب وکړی نو د ګناه د ارتکاب سزا به په غاړه واخلی او الله تعالی په ټولو چارو مسلط او حاضر او ناظر ذات دی.

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٖ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيۡءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾

او څوک چې په درناوی سره تاسو ته سلام واچوی نو تاسو هم ورباندې له هغه بهتر سلام یا لږ تر لږه هماغه شان ځواب ورکړئ،( باور ولرئ) چې الله تعالی د هر شی حساب اخستونکی دی.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيهِۗ وَمَنۡ
أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ حَدِيثٗا ﴿٨٧﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې له هغه نه غیر، بل هیچاته عبادت نشی کیدی. هغه به تاسو ټول د قیامت په ورځ( د حساب کتاب لپاره) راټول کړی، هغه ورځ چې په راتګ کی یې هیڅ شک او شبهه نشته، او څوک دی د الله تعالی نه زیات په خبره کی ربښتیا ویونکی؟( بیشکه چې د الله تعالی وعده ربښتونې ده).

۞ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِينَ فِئَتَيْنِ وَاللَّهُ أَرْكَسَهُم بِمَا كَسَبُوا ۚ
أَتُرِيدُونَ أَن تَهْدُوا مَنْ أَضَلَّ اللَّهُ ۖ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ
سَبِيلًا ﴿٨٨﴾

**( ای مؤمنانو!) تاسو ولې د منافقينو په باب دوه ډلې شوئ( او وايئ دوی مؤمنان دی که کافران؟ په ضد يې جګړه پکار ده که نه؟ او د هدايت وړ دی که نه؟) په داسې حال کې چې الله تعالی، هغوی د ناوړو اعمالو له امله، بيرته کفر ته ګرځولی دی. آيا تاسو هڅه کوئ هغه کسان په سمه لار راولی چې الله تعالی( د مجازات په توګه) ګمراه کړی دی؟(ای پيغمبره!) څوک چې الله بې لاری کړی وی، ته به ورته هيڅکله هم (سمه) لار پيدا نه کړې شې.**

وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً ۖ فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ
حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ
وَجَدتُّمُوهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾

**دوی په ډيره مينه غواړی چې تاسو هم د هغوی په شان کافران شئ، تر څو( په کفر او ګمراهئ) کې سره يو شان او برابر شئ. ( له همدی امله درته امر کوو) چې د هغوی له هيڅ کوم تن سره دوستی مه کوئ تر هغه چې( د واقعی مسلمانانو په حيث) يی د الله تعالی په لار کی هجرت نه وی کړی. نو که له هجرت کولو يې ډډه وکړه( او ستاسو په ضد يې خپلو خيانتونو او جنايتونو ته ادامه ورکړه) هرچيرې چې مو ورباندې لاس بر شی، ويې نيسی او ( د لزوم په صورت کی يې) ووژنی او له هيڅ يوه تن څخه يې هم د دوستی او مرستې غوښتنه مه کوئ.**

إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم مِّيثَٰقٌ أَوۡ جَآءُوكُمۡ حَصِرَتۡ
صُدُورُهُمۡ أَن يُقَٰتِلُوكُمۡ أَوۡ يُقَٰتِلُواْ قَوۡمَهُمۡۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ
عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ فَإِنِ ٱعۡتَزَلُوكُمۡ فَلَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ فَمَا
جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سَبِيلٗا ﴿٩٠﴾

**خو هغه (منافقان) له دې حکم نه مستثنی دی چې د هغه قوم سره یو ځای کیږی چې تاسو ورسره( د جنګ د متارکې یا سولې) تړون لرئ او هغه (منافقین) به هم په امن وی چې تاسو ته پناه راوړی او له جګړې زړه توری دی، نه ستاسو سره جګړه غواړی ، نه له خپل قوم سره. او که د الله تعالی اراده وی، هغوی به یې په تاسو برلاسی کړی وی او ستاسو په ضد به جنګیدلی وی. نو که هغوی ستاسو نه ډډې ته شی او تاسو ته د سولې او پخلاینې پیشنهاد وکړی(تیری ورباندې مه کوئ) ځکه الله تعالی تاسو ته په هغوی باندې د حملې او تیری هیڅ جواز نه دی درکړی.**

سَتَجِدُونَ ءَاخَرِينَ يُرِيدُونَ أَن يَأۡمَنُوكُمۡ وَيَأۡمَنُواْ قَوۡمَهُمۡ كُلَّ مَا رُدُّوٓاْ
إِلَى ٱلۡفِتۡنَةِ أُرۡكِسُواْ فِيهَاۚ فَإِن لَّمۡ يَعۡتَزِلُوكُمۡ وَيُلۡقُوٓاْ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَمَ وَيَكُفُّوٓاْ
أَيۡدِيَهُمۡ فَخُذُوهُمۡ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡۚ وَأُوْلَٰٓئِكُمۡ
جَعَلۡنَا لَكُمۡ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ﴿٩١﴾

**( د منافقینو) بله ډله به هم ووینئ چې غواړی هم ستاسو او هم د خپل ( مشرک) قوم څخه په امن کې پاتې شی( ستاسو په وړاندې د خپل ایمان او اسلام لافې وهی او بیا د کافرانو په غونډو کې په خپل کفر ثابت ولاړ وی، او د خپل باطنی خباثت له امله) د مسلمانانو په ضد د فتنې او فساد هر ډګر ته هم وردانګی. نو که دغه خلک ستاسو له مقابلې نه ډډې ته نشی او تاسو ته د سولې پیشنهاد، ونه کړی او له فتنې جوړولو نه هم لاس په سر نشی،هر چیرې چې یې ومومئ ویې نیسئ او( د لزوم په صورت کی یې) ووژنئ، د هغوی( د نیولو او وژلو) لپاره زمونږ له خوا تاسو ته کامله اجازه درکړی شوه.**

وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٍ أَن يَقۡتُلَ مُؤۡمِنًا إِلَّا خَطَـٔٗاۚ وَمَن قَتَلَ مُؤۡمِنًا
خَطَـٔٗا فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖ وَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦٓ إِلَّآ أَن
يَصَّدَّقُواْۚ فَإِن كَانَ مِن قَوۡمٍ عَدُوّٖ لَّكُمۡ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَتَحۡرِيرُ
رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖۖ وَإِن كَانَ مِن قَوۡمِۭ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُم
مِّيثَٰقٞ فَدِيَةٞ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ وَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مُّؤۡمِنَةٖۖ
فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ مُتَتَابِعَيۡنِ تَوۡبَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ
وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٩٢﴾

**له مؤمن سره نه ښايي چې بل مؤمن ووژني مګر دا چې په خطا يې له لاسه ووژل شي، او څوک چې مؤمن په خطايي سره ووژني نو د کفارې په ډول، بايد يو مؤمن له غلامۍ نه خلاص کړي او هم د مقتول ورثې ته خون بها ورکړي،مګر دا چې ورثه يې وروبښي. که وژل شوی کس ستاسې له دښمن قوم څخه وي او مؤمن وي نو کفاره يې يوازې د يوه مؤمن غلام آزادول دي ( او ديت وربانديې نشته)، او که د داسې قوم فرد وي چې تاسو ورسره تړون او تعهد ولري، نو قاتل به هم د مقتول ورثې ته خون بها ورکوي او هم به يو مؤمن له غلامۍ نه خلاصوي. خو که غلام پيدا نشي نو بايد دوه مياشتې پرله پسې روژه ونيسي، دا الله تعالی ته د توبې قبلولو لار ده او الله تعالی په ټولو چارو پوه او د حکمت خاوند ذات دی.**

وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدٗا
فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمٗا ﴿٩٣﴾

**او څوک چې يو مؤمن قصداً ووژني، جزا يې دوزخ دی چې تل ترتله به پکی پروت وي، د الله تعالی له غضب او لعنت سره به مخامخ وي او د هغه لپاره تر ټولو لوی عذاب تيار شوی دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلَا تَقُولُواْ
لِمَنۡ أَلۡقَىٰٓ إِلَيۡكُمُ ٱلسَّلَٰمَ لَسۡتَ مُؤۡمِنٗا تَبۡتَغُونَ
عَرَضَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٞۚ
كَذَٰلِكَ كُنتُم مِّن قَبۡلُ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَتَبَيَّنُوٓاْۚ
إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٗا ٩٤

**ای مؤمنانو! کله چې د الله تعالی په لاره کې د جهاد په سفر ووځئ نو باید ښه پلټنه وکړئ( چې له چا سره جنګیږئ، مسلمانان دی که کافران؟) او څوک چې درباندې سلام واچوی( بیا یې مال ته سترګې مه نیسئ او) ورته مه وایئ چې ته مؤمن نه یې( بلکه سلام یې ومنئ او وعلیک ورته ووایئ). که هدف مو د دنیا ګټه وی نو له الله تعالی سره خو ستاسو لپاره ډیر غنیمتونه شته.( لږ د ځان په حال هم فکر وکړئ) تاسو هم له دې وړاندی همدا ډول( په کفر کی ژوند کاوه او خپل منځی جګړې مو یوازې د لوټ ماری له پاره وې) خو الله تعالی درباندې رحم وکړ( او د اسلام نعمت یې ستاسو په برخه کړ نو اوس د الله تعالی شکر په ځای کړئ ) او په جهاد کې له پوره دقت او احتیاط نه کار واخلئ( تر څو مو لاس په ناحقه د چا په وینو سره نشئ). الله تعالی ستاسو په کړو وړو ډیر ښه خبر دی( او تاسو په خپلو اعمالو مواخذه کیږئ).**

لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ غَيۡرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ وَٱلۡمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ
ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ عَلَى
ٱلۡقَٰعِدِينَ دَرَجَةٗۚ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ عَلَى
ٱلۡقَٰعِدِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا ٩٥

**په کور کې ناست معذور مؤمنان له هغو مجاهدینو سره چې د الله تعالی په لار کی په سر او مال جهاد کوی برابر نه دی. الله پاک هغو کسانو ته چې په سر او مال جهاد کوی،د په کور ناستو په نسبت لوړه درجه ورکړې، او که څه هم له ټولو سره یې د ښه اجر وعده کړې خو د الله تعالی په نزد د مجاهدینو د قربانیو درجه له ناستو( معذورو) کسانو څخه ډیره لوړه ده.**

دَرَجَٰتٖ مِّنۡهُ وَمَغۡفِرَةٗ وَرَحۡمَةٗۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمًا ﴿٩٦﴾

**د الله تعالی په نزد د هغوی لپاره ستري درجې او مرتبې دی، او ببنبنه او رحمت دی او الله تعالی ښه ببنونکی او رحم کوونکی ذات دی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ تَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ظَالِمِيٓ أَنفُسِهِمۡ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمۡۖ قَالُواْ كُنَّا
مُسۡتَضۡعَفِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ قَالُوٓاْ أَلَمۡ تَكُنۡ أَرۡضُ ٱللَّهِ وَٰسِعَةٗ فَتُهَاجِرُواْ فِيهَاۚ
فَأُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَسَآءَتۡ مَصِيرًا ﴿٩٧﴾

**هغه کسان چې په ځانونو یې ظلم کړی( نه یې هجرت کړی او نه جهاد ) د ځنکدن په وخت کې( له سختو پوښتنو سره مخامخ کیږی او) پرښتې ترې پوښتنه کوی: تاسو په څه حال واست( د دین لپاره مو څه کړی؟) دوی به ووایی: مونږ خو پخپله خاوره کی بې وسه او مجبور وو. پرښتې به ورنه بیا پوښتنه وکړی: آیا د الله تعالی ځمکه پراخه نه وه چې هجرت مو کړی وی؟ نو د دغو خلکو هستوګنځی دوزخ دی چې د ورتګ تر ټولو بد ځای دی.**

إِلَّا ٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ لَا يَسۡتَطِيعُونَ حِيلَةٗ
وَلَا يَهۡتَدُونَ سَبِيلٗا ﴿٩٨﴾

**خو هغه نارینه، ښځې او ماشومان چې په رښتیا بې وسه او د وتلو لار ګودر نه مومی، له عذاب نه مستثنا دی.**

فَأُوْلَٰٓئِكَ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَعۡفُوَ عَنۡهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَفُوًّا غَفُورٗا ﴿٩٩﴾

**او کیدی شی چې الله تعالی ببنبنه ورته وکړی ځکه الله تعالی ( له ګناهونو) تیریدونکی او ببنونکی ذات دی.**

۞ وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يَجِدْ فِي ٱلْأَرْضِ مُرَٰغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ وَمَن
يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ
عَلَى ٱللَّهِ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٠﴾

**او څوک چې د الله تعالی په لاره کې هجرت وکړی هغوی ته به په ځمکه کی پراخ هستوګنځی او د ژوند ښې آسانتیاوې په برخه وی، او څوک چې د الله او رسول د رضا لپاره له کوره ووځی او ( په هجرت کی) وفات شی، اجر او ثواب یې د الله په حضور کې ثابت دی او الله تعالی ډیر بښونکی او مهربان ذات دی.**

وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي ٱلْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا۟ مِنَ ٱلصَّلَوٰةِ إِنْ
خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱلْكَـٰفِرِينَ كَانُوا۟ لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿١٠١﴾

**او کله چې په سفر ووځئ نو کولی شئ خپل لمونځونه لنډ کړئ( او د څلورو فرض رکعتونو په ځای دوه رکعته وکړئ) په تیره بیا چې له کافرانو څخه د ضرر او اذیت خطر احساسوئ ځکه کافران ستاسو ښکاره او سرسخته دښمنان دی.**

وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم
مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوٓاْ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن
وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ
مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ وَدَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ
تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً
وَٰحِدَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ
كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَن تَضَعُوٓاْ أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُواْ حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ
أَعَدَّ لِلْكَٰفِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾

**او (ای پیغمبره! کله چې د جګړې او خطر په ډګر کې) مسلمانانو ته ( د خوف د لمانځه) امامت کوې (نو طریقه داده چې) باید یوه ډله مجاهدین له خپلو وسلو سره مسلح په تاپسې د لمانځه اقتدا وکړی او کله چې یې نیم لمونځ اداء کړ سلام دې وګرځوی او له صف نه دې شاته لاړ شی او پیره داری دې وکړی، او بله ډله مجاهدین دی( چې تر اوسه یې پیره کوله) را شی او په تاپسې دی نیت وتړی خو باید د لمانځه په ترڅ کی هم مسلح او مواظب اوسی، ځکه کافران غواړی تاسو له خپلو وسلو او نظامی مهماتو نه غافل کړی او ناڅاپه یرغل درباندې وکړی. او که د باران له امله په تکلیف یاست یا مو صحت ښه نه وی نو کولی شئ ( د لمانځه په ترڅ کی) مو وسله( مخې یا څنګ ته) په ځمکه کیږدئ خو باید( د خطر د مخنیوی لپاره ) هوښیار او محتاط واوسئ. بیشکه چې الله تعالی د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی.**

فَإِذَا قَضَيْتُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ
جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا ٱطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ۚ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتْ
عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ كِتَٰبًا مَّوْقُوتًا ﴿١٠٣﴾

او کله مو چې( د جګړې په ډګر کې ) لمونځ اداء کړ نو په ولاړه، ناسته او اړخ په اړخ( یعنی په هر حال او حتی د جګړې په تاوده ډګر کې) الله یاد کړئ( او مرسته ترې وغواړئ). کله چې( اضطراری حالت پای ته ورسی) او حالات عادی او د اطمینان وړ شی، نو خپل لمونځ په ټاکلو وختونو او پوره توجه سره اداء کړئ، بیشکه چې لمونځ په معلومو او ټاکلو وختونو کې په مؤمنانو فرض کړی شوی دی.

وَلَا تَهِنُوا۟ فِى ٱبْتِغَآءِ ٱلْقَوْمِ ۖ إِن تَكُونُوا۟ تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ
كَمَا تَأْلَمُونَ ۖ وَتَرْجُونَ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا
حَكِيمًا ﴿١٠٤﴾

او د دښمن په تعقیبولو او لټون کی سستی مه کوئ، که تاسو ته( له دښمن سره په مقابله کی) درد او صدمه رسیږی نو هغوی هم دغه ډول صدمه وینی ( توپیر همدومره دی چې) تاسو د الله تعالی د خوښئ او ابدی جنت د لاسته راوړلو هیله من یئ او هغوی له دغه نعمت نه بې برخې دی، الله تعالی( ستاسو د دواړو ډلو په اعمالو) خبر او حکیم ذات دی( او هر چا ته به د هغه د اعمالو سره سمه سزا او جزا ورکړی).

إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ ۚ
وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا ﴿١٠٥﴾

( ای پیغمبره)بیشکه مونږ دغه کتاب(چې د حق او حقیقت بیانوونکی دی) تاته نازل کړی ترڅو، د الهی لارښوونوپه رڼا کی د خلکو تر منځ قضاوت او فیصله وکړې او هیڅکله د خاینانو (او ټګانو درواغجن قسمونه او ګواهئ مه منه) او ملاتړ یې هم مه کوه.

وَٱسْتَغْفِرِ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٠٦﴾

او له الله تعالی نه بښنه وغواړه( چې د غلا په قضیه کی دې په بې خبرئ کی د منافق ابن ابریق طرفداری وکړه) بیشکه چې الله تعالی بښونکی او رحم کوونکی دی.

وَلَا تُجَٰدِلۡ عَنِ ٱلَّذِينَ يَخۡتَانُونَ أَنفُسَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن
كَانَ خَوَّانًا أَثِيمٗا ١٠٧

او( ای پیغمبره!) د هغه چا ملاتړ او دفاع مه کوه چې( د ګناهونو په ارتکاب سره په حقیقت کې) له خپلو ځانونو سره خیانت کوی. الله تعالی هیڅکله خیانت کوونکی ګنهکاران نه خوښوی.

يَسۡتَخۡفُونَ مِنَ ٱلنَّاسِ وَلَا يَسۡتَخۡفُونَ مِنَ ٱللَّهِ وَهُوَ مَعَهُمۡ إِذۡ
يُبَيِّتُونَ مَا لَا يَرۡضَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا يَعۡمَلُونَ مُحِيطًا ١٠٨

دغه خاینان( د خلکو په سترګو کی خاوری شیندی) او خپل خیانتونه پټوی خو له الله تعالی نه یې نشی پټولی ځکه هغه تل د دوی د پټو او ښکاره اعمالو څارونکی دی په تیره د شپې په مهال،چې دوی د الله تعالی د خوښې په خلاف دسیسې او پلمې جوړوی( او د ورځې یې بیا عملی کوی ، خو باید پوه شی چې)الله تعالی د دوی په ټولو کړنو پوره احاطه لری.

هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ جَٰدَلۡتُمۡ عَنۡهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فَمَن
يُجَٰدِلُ ٱللَّهَ عَنۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَم مَّن يَكُونُ عَلَيۡهِمۡ
وَكِيلٗا ١٠٩

( ای د مجرمینو ملاتړو واوری) تاسو خو نن د دنیا په ژوندانه کی د دوی دفاع وکړه خو دا ووایئ چې د قیامت په ورځ به د الله تعالی په حضور کې د دوی لپاره څوک جګړه وکړی؟ یا څوک دی چې( د عذاب نه د نجات لپاره) ورسره مرسته وکړی؟

وَمَن يَعۡمَلۡ سُوٓءًا أَوۡ يَظۡلِمۡ نَفۡسَهُۥ ثُمَّ يَسۡتَغۡفِرِ ٱللَّهَ يَجِدِ ٱللَّهَ
غَفُورٗا رَّحِيمٗا ١١٠

څوک چې یو بد عمل وکړی یا په خپل ځان ظلم وکړی او سمدستی له الله تعالی نه ښننه وغواړی نو بی له شکه به الله تعالی، ښښونکی او رحم کوونکی ومومی.

وَمَن يَكۡسِبۡ إِثۡمٗا فَإِنَّمَا يَكۡسِبُهُۥ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا
حَكِيمٗا ١١١

او څوک چې د يوې ګناه مرتکب شي، نو زيان يې د خپل ځان دی او الله تعالی( په ټولو چارو) پوه او حکيم ذات دی.

وَمَن يَكۡسِبۡ خَطِيٓـَٔةً أَوۡ إِثۡمٗا ثُمَّ يَرۡمِ بِهِۦ بَرِيٓـٔٗا فَقَدِ ٱحۡتَمَلَ بُهۡتَٰنٗا
وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ١١٢

او څوک چې کومه خطا او ګناه وکړی او تور يې په کوم بې ګناه ولګوی نو( په حقيقت کی يې) د لوی بهتان او ښرګندې ګناه دروند پيټی په خپلو اوږو واخست.

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ وَرَحۡمَتُهُۥ لَهَمَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ أَن
يُضِلُّوكَ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡۖ وَمَا يَضُرُّونَكَ مِن شَيۡءٖۚ
وَأَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمۡ تَكُن
تَعۡلَمُۚ وَكَانَ فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكَ عَظِيمٗا ١١٣

(ای پيغمبره) که د الله تعالی فضل او مرحمت په تا نه وی( نو د خاينانو د قبيلی او خپلوانو) يوې ډلی غوښتل چې تا( د عادلانه قضاوت نه ) منحرف کړی( خو دغه ناپوهو خيال بافانو) يوازې خپل ځانونه ګمراه کول( ځکه چې الله تعالی تا د دوی په دسيسو او پلمو خبروی او ته پخپل ايمانی بصيرت حق تشخيصوې) او هغوی تاته هيڅ زيان نشی رسولی. الله تعالی تاته کتاب( قرآن چې د حق او باطل تفکيک کوونکی دی ) له حکمت

سره يو ځای نازل کړی او هغه( شرايع او احکام يې) درزده کړی چې ته ورباندې له (وحی نه وړاندې) نه پوهيدې او د الله تعالی فضل او احسان په تا باندې ډير لوی دی.

۞ لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١١٤﴾

د خلکو په خپلمنځی پټو پټو خبرو کې زياتره څه خير نشته مګر دا چې يو بل ته په صدقاتو او خير ښيګڼه امر کوی او د خير، نيکيو او د خلکو سره د روغې جوړې په باب پټې او په راز کې خبرې او مشورې کوی( د ثواب او اجر کار دی) او څوک چې د الله تعالی د خوښی د ترلاسه کولو لپاره دغه ډول نيک کارونه سرته رسوی، مونږ به ورته ډير زر لوی اجر ورکړو.

وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾

او څوک چې د سمې لارې د پيژندلو سره سره د پيغمبر مخالفت ته ملا وتړی او د مؤمنانو له طريقې او منهج نه غير، بله لار غوره کوی نو مونږ به ورته په هماغه لار چې ده خوښه کړې، د تللو نور فرصت هم ورکړو او بيا به يې دوزخ ته ننه باسو چې تر ټولو بد هستوګنځی دی.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾

الله تعالی د شرک( ستره ګناه) هيڅکله نه ښنی او بله هره ګناه چې چاته يې اراده وشی، وربښنی يې، او څوک چې له الله تعالی سره بل شريک غوره کړی، په لويه ګمراهی کې ورک دی.

إِن يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ إِنَٰثٗا وَإِن يَدۡعُونَ إِلَّا شَيۡطَٰنٗا
مَّرِيدٗا ﴿١١٧﴾

**(مشرکان) د الله تعالی په ځای، د ښځو په نوم د نومول شویو بتانو( عزی، مناة او نائلة) عبادت کوی چې په حقیقت کې د سرکش او رټل شوی شیطان عبادت او اطاعت دی.**

لَّعَنَهُ ٱللَّهُۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنۡ عِبَادِكَ نَصِيبٗا مَّفۡرُوضٗا ﴿١١٨﴾

**د الله تعالی لعنت دې وی( په شیطان، چې قسم یې وکړ او الله تعالی ته یې) وویل: زه به ستا له بندګانو نه یوه خاصه برخه د ځان ملګری کړم.**

وَلَأُضِلَّنَّهُمۡ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمۡ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ
ٱلۡأَنۡعَٰمِ وَلَأٓمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَّخِذِ
ٱلشَّيۡطَٰنَ وَلِيّٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدۡ خَسِرَ خُسۡرَانٗا
مُّبِينٗا ﴿١١٩﴾

**«زه به خامخا هغوی منحرف کړم، زړونو ته به یې اوږدې اوږدې باطلې ارزوګانې ورواچوم، امر به ورته وکړم او زما په امر به( په خرافاتو پسې منډې وهی) د څارویو غوږونه به پرې کوی( تر څو له کار نه معاف او بتانو ته وقف شی) بیا به ورته امر وکړم او زما په امر به په خدایی جوړښت او پیدایښت کې تغیر راولی( او حتی د نارینه و او ښځینه و جنسیت به سره رد و بدل کړی)».( الله تعالی فرمایی:) څوک چې د الله تعالی په ځای، شیطان د خپل ولی او سرپرست په حیث وټاکی نو له سخت او نه جبرانیدونکی زیان سره به مخامخ شی.**

يَعِدُهُمۡ وَيُمَنِّيهِمۡۖ وَمَا يَعِدُهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿١٢٠﴾

**شیطان هغوی ته تشې وعدې ورکوی او په ارزوګانو کی یې مصروف ساتی، خو دوی ته د شیطان وعدې له فریب ورکولو پرته نوره هیڅ ثمره نه لری.**

أُوْلَٰٓئِكَ مَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُونَ عَنۡهَا مَحِيصٗا ﴿١٢١﴾

**(د شیطان) د دغو (پیروانو) هستوګنځی جهنم دی چې د وتلو او نجات هیڅ لار به ترې ونه مومی.**

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ
تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَمَنۡ
أَصۡدَقُ مِنَ ٱللَّهِ قِيلٗا ١٢٢

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه کوی، هغو جنتونو ته به یې ورداخل کړو چه ( د ماڼیو او ونو ) لاندې یې( د الهی نعمتونو) رودونه روان دی او هغوی به پکی تل تر تله هستوګن وی، د ا د الله تعالی وعده ده او بیشکه چې د الله تعالی وعده حقه او ربښتونی ده ، څوک دی د الله تعالی نه زیات په وعده وفا کوونکی؟( بلکه هیڅوک).

لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا
يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٢٣

( اجر او ثواب، فضیلت او برتری او د چارو عواقب) نه ستاسو په ارزوګانو پورې تړلی او نه د اهل کتابو په خواهشاتو پورې، بلکه هر څوک چې بد او ناوړه کار وکړی د خپلو بدو سزا به وینی او د الله تعالی په مقابله کی به د ځان لپاره بل دوست او مرستندوی پیدا نه کړی( چې له عذابه یې وژغوری) .

وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ
فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا ١٢٤

او څوک چې نیک عملونه کوی، سړی دی که ښځې، په دې شرط چې مؤمن وی، جنت به یې ځای وی او د ذرې په اندازه ظلم به ورسره ونشی.

وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ
مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۗ وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا ١٢٥

د هغه کس دین له ټولو ښه او غوره دی چې خپل ځان یې په مخلصانه توګه الله تعالی ته سپارلی،نیک عمله او د موحد او حق پالونکی ابراهیم د قانون او حق دین تابع هم دی. هغه ابراهیم چې الله تعالی ورته د خلیل لقب ورکړی او د خپل مخلص دوست په حیث یې اعلان کړی دی.

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ
مُّحِيطًا ﴿١٢٦﴾

د آسمانونو او ځمکې ټول شته د الله تعالی ملکیت دی او الله تعالی په ټولو باندی پوره واکمن دی.

وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي ٱلنِّسَآءِ ۖ قُلِ ٱللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَىٰ
عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ فِي يَتَٰمَى ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا
كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَن تَنكِحُوهُنَّ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ
ٱلْوِلْدَٰنِ وَأَن تَقُومُوا۟ لِلْيَتَٰمَىٰ بِٱلْقِسْطِ ۚ وَمَا تَفْعَلُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ بِهِۦ عَلِيمًا ﴿١٢٧﴾

(ای پیغمبره خلک) ستا نه د ښځو په حقله فتوا غواړی، ورته ووایه چې الله تعالی تاسو ته د هغو احکامو او هدایاتو د تطبیق او اطاعت امر کوی چې ( د دې سورت په لومړیو آیتونو کی) بیان شوی او د هغو یتیمو نجونو په حقله هم درته حکم کوی چې (ستاسو په سرپرستی کی دی او) تاسو ورسره واده کول غواړئ خو د ټاکلی حق ( مهر) ورکولو ته یی غاړه نه ږدئ ( اوس اجازه لرئ چې د نیکې رویې او خیر ښیګڼې په اراده او د شرعی مهر په مقابل کې له یتیمو نجونوسره نکاح وتړئ). دغه راز د کمزورو ماشومانو په باب هم ( چې پخوا تاسو د میراث له حق نه محروم ساتلی وو، درته حکم کوی چې د عدالت او انصاف په رڼا کې د هغوی حقوق ورکړئ او باور وساتئ چې د ښځو، یتیمانو او کمزورو ماشومانو په حق کې ستاسو انصاف، نیکه رویه او ټول خیریه اقدامات، بې اجره نه پاتې کیږی)او الله تعالی ورباندی ډیر ښه خبر دی.

وَإِنِ ٱمْرَأَةٌ خَافَتْ مِنۢ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ
أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۚ وَٱلصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ وَأُحْضِرَتِ ٱلْأَنفُسُ ٱلشُّحَّ ۚ
وَإِن تُحْسِنُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ
خَبِيرًا ﴿١٢٨﴾

او که کومه ښځه د خپل میره د ناوړه چلن او مخ اړونې په وجه په دې اندیښنه کې وی چې کورنی ژوند یې لا پسې خراب نشی نو په دواړو هیڅ ګناه نشته که( یو بل ته د یو څه حقوقو په ښښلو سره) مصالحت وکړی( او د کورنی اطمینان خوږه فضا رامنځته کړی). روغه جوړه تر ټولو غوره ده او انسانی نفسونه( همیشه د بخل، شخصی ګټې او د مال) د حرص په لور ډیر میلان لری. او که تاسو له خپلو میرمنو سره نیکی وکړئ او (له بد خویئ او جنګ جنجال نه) ځان وساتئ نو بیشکه چې الله تعالی ستاسو له کړو وړو ډیر ښه خبر دی ( او د نیکئ اجر به درکړی).

وَلَن تَسْتَطِيعُوٓا۟ أَن تَعْدِلُوا۟ بَيْنَ ٱلنِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ ۖ فَلَا
تَمِيلُوا۟ كُلَّ ٱلْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَٱلْمُعَلَّقَةِ ۚ وَإِن تُصْلِحُوا۟
وَتَتَّقُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٢٩﴾

او که څه هم ستاسو ډیره ارزو دا وی چې د خپلو ښځو ترمنځ عدالت او برابری وساتئ خو دغه کار ستاسو له توان نه پوره نه دی نو باید دا ظلم هم و نه کړئ چې ټول میلان او پاملرنه مو د یوې ښځې په لور واړوئ او بله مو په بې سرنوشته حالت کې پاتې کړئ (چې نه ستا د کور وی نه د بل) او که تاسو په خپلو کی سره په روغه جوړه او صمیمیت کې ژوند وکړئ او( په خپلو میرمنو باندې له ظلم او حق تلفئ نه)ځان وساتئ نو بیشکه چې الله تعالی ښه ښښونکی او رحم کوونکی ذات دی( او ستاسو تقصیرات او تیروتنې به درته وبښی).

وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ ٱللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِۦ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ وَٰسِعًا
حَكِيمًا ﴿١٣٠﴾

خو که ښځه او خاوند( د خپل منځی روغی جوړې په تامین کی بریالی نشی) او د جلاوالی او طلاق لپاره تصمیم ونیسی نو حرج نشته، الله تعالی به په هر یوه جلا جلا مهربانی وکړی، الله تعالی د خپل (رحمت، فضل او احسان) پراخوونکی او حکیم ذات دی( چې هر کار یې له حکمت او مصلحت سره برابر دی).

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ
مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَنِيًّا حَمِيدٗا ﴿١٣١﴾

**د آسمانونو او ځمکې ټول شته او موجودات د الله تعالی ملکیت دی، او مونږ هغو خلکو ته چې ستاسو نه وړاندې مو ورته کتاب ورکړی و، امر کړی او تاسو ته هم سپارښتنه کوو چې د الله تعالی ( له عذاب ) نه وویرېږئ او که د کفر لاره ونیسئ نو( پوه شئ چې الله تعالی ته کوم زیان نشئ اړولی ځکه) د آسمانونو او ځمکې د ټولو موجوداتو او سرمایو مالکیت له الله تعالی سره دی او الله تعالی له هر چا بې نیازه او د ثنا او ستاینې مستحق ذات دی.**

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٣٢﴾

**او د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او سرمایې یوازې د الله تعالی په مالکیت او سلطنت پورې تړلی او صرف الله تعالی( د کائناتو د چارو د ادارې او سمبالښت لپاره) کافی دی.**

إِن يَشَأۡ يُذۡهِبۡكُمۡ أَيُّهَا ٱلنَّاسُ وَيَأۡتِ بِـَٔاخَرِينَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ
ذَٰلِكَ قَدِيرٗا ﴿١٣٣﴾

**ای خلکو که(الله تعالی)وغواړی تاسو به له منځه یوسی او بله ډله به رامنځته کړی،ځکه چې الله پاک په دغه چاره کامل قدرت لری.**

مَّن كَانَ يُرِيدُ ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا فَعِندَ ٱللَّهِ ثَوَابُ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَكَانَ
ٱللَّهُ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ﴿١٣٤﴾

** څوک چې یوازې د دنیا معاوضه او امتیازات غواړی ( نو په دی هم باید فکر وکړی) چې د دنیا او آخرت اجر او ثواب( چې د ایمان او تقوا محصول دی) د الله تعالی سره دی او الله تعالی د ټل لپاره(ستاسو د خبرو) اوریدونکی او ( ستاسو د کړو وړو)لیدونکی دی.**

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ
عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا
فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُوا۟ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓا۟ أَوْ
تُعْرِضُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾

**اى مؤمنانو! ( د ژوند په چارو كې تل) د عدل او انصاف پلويان او د الله تعالى لپاره په حقه ګواهۍ ټينګ او ثابت ودرېږى، كه څه هم ستاسو انصاف او حقه ګواهۍ پخپله ستاسو، يا مو د مور او پلار او خپلوانو په خلاف وى.( د مشهود عليه او مشهود له) شتمنى او بې وسى ته هيڅ ارزښت مه وركوئ ځكه الله تعالى د هغوى په خير ښېګڼه او مصالحو، ډير ښه پوهيږى، او د ګواهۍ وركولو په وخت كې د خپلو نفسى خواهشاتو پيروى هم مه كوئ( تر څو له حق نه منحرف نشئ) او د ګواهۍ په بيانولو كې پيچلى او ژويلى الفاظ هم مه كاروئ (چې صراحت پكى نه وى او اوريدونكو ته شكونه پيدا كوى او له حقې ګواهۍ وركولو نه ) ډډه هم مه كوئ، پوه شئ چې الله تعالى ستاسو په كړو وړو ښه خبر دى( او د اعمالو سره سم به درته بدله دركوى).**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ
عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ
وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا
بَعِيدًا ﴿١٣٦﴾

**اى د ايمان خاوندانو! ( په صداقت او قلبى اخلاص سره) په الله تعالى او د هغه په رسول او په هغه كتاب ايمان راوړئ چې الله خپل رسول( صلى الله عليه و سلم) ته نازل كړى او په هغه كتاب هم ايمان راوړئ چې له دې نه وړاندې يې نازل كړى، او څوک چې د الله، د هغه د ملائكو، آسمانى كتابونو، پيغمبرانو او د قيامت د ورځى له حقانيت نه منكر او كافر شى، بيشكه چې په ليرې ګمراهۍ كې سرګردانه دى.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ ثُمَّ ٱزْدَادُواْ كُفْرًا
لَّمْ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيلًا ﴿١٣٧﴾

**هغه کسان چې ایمان راوړي، بیا کافر شي، بیا ایمان راوړي او بیا کافر شي او دا ځل يې کفر د زړه تل ته کوز شي( او بلاخره په کفر کې له دنیا نه رخصت شي) نو الله تعالی يې هيڅکله نه ببښي او نه يې ( د هدايت او جنت) په لاره وربرابروي.**

بَشِّرِ ٱلْمُنَٰفِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣٨﴾

**منافقانو ته زيرى ورکړه چې دردناک عذاب ورته تيار شوى دى.**

ٱلَّذِينَ يَتَّخِذُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۚ أَيَبْتَغُونَ
عِندَهُمُ ٱلْعِزَّةَ فَإِنَّ ٱلْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا ﴿١٣٩﴾

**(منافقان) هغه کسان دي چې له مؤمنانو څخه جلا شي او له کافرانو سره د دوستۍ تړون وکړي. آيا دوى له کافرانو نه عزت غواړي؟ نو( دنيوى او اخروى) عزت خو ټول له الله تعالى سره دى( څوک چې له الله نه عزت وغواړي عزتمند به شي او چې له بل نه عزت غواړي خوار او ذليل به شي).**

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا
وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُواْ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ ۚ إِنَّكُمْ
إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِى جَهَنَّمَ
جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾

**الله تعالى په خپل کتاب( مبارک قرآن) کې تاسو ته حکم کړى چې په داسې غونډه کې، چې د الله تعالى په آيتونو( او احکامو) تمسخر او انکار کيږي، ګډون مه کوئ، که نه تاسو به هم د هغوى په شان په ګناه کې شريک حساب شئ.هو، که د بحث موضوع بدلوي نو بيا په تاسو ګناه نشته. بيشکه چې الله تعالى به( د قيامت په ورځ) منافقان او کافران ټول په جهنم کې سره را يو ځاى کړي.**

ٱلَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمۡ فَإِن كَانَ لَكُمۡ فَتۡحٞ مِّنَ ٱللَّهِ قَالُوٓاْ أَلَمۡ نَكُن
مَّعَكُمۡ وَإِن كَانَ لِلۡكَٰفِرِينَ نَصِيبٞ قَالُوٓاْ أَلَمۡ نَسۡتَحۡوِذۡ عَلَيۡكُمۡ
وَنَمۡنَعۡكُم مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَلَن
يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لِلۡكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ سَبِيلًا ١٤١

منافقان هغه کسان دی چې ستاسو حالات څاری، که مو د الله تعالی له خوا بری په برخه شی نو وایی: آیا مونږ ستاسو سره( د جګړې په ډګر کی ملګری) نه وو؟(نو اوس خو په غنیمتونو کی زمونږ برخه راکړئ) او که د کافرانو په برخه څه نا څه کامیابی وه نو ورته وایی: آیا مونږ نه شوای کولی چې د مسلمانانو په ننګه په تاسو برلاسی شوی وی؟( همدا مونږ وو چې په اسلامی لښکر کی مو ستاسو جاسوسی کوله ،هغوی مو ستاسو له قوت نه ویرول او تاسو مو د مسلمانانو له حملو نه ژغورلئ نو اوس خو په غنیمت او ولجه کې هم باید ستاسو سره شریک شو) الله پاک به د قیامت په ورځ ستاسو تر منځ پریکړه کوی،( تاسو به جنت ته ځئ او منافقین به دوزخ ته غورزول کیږی او تر هغه چې مؤمنان په خپل ایمان او نیکو اعمالو ټینګار او مداومت وساتی) الله پاک به ورباندی هیڅکله کافران مسلط او برلاسی نه کړی.

إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمۡ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ
قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ١٤٢

بیله شکه، منافقین له الله تعالی سره ټګی کوی او الله پاک هم دوی ته د دوی د چل فریب سزا ورکوی.( د دغو منافقینو یوه لویه نښه دا ده چې) لمانځه ته په ناراستئ (او کراهت ) پورته کیږی، لمونځ یې صرف یو نمایش او ځان ښودنه ده. او ډیر لږ( صرف د خلکو له مخې) د الله پاک ذکر( عبادت ) کوی.

مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَلَن
تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ١٤٣

په عقیده کی مذبذب او زړه نا زړه دی، کله دین ته منډه کړی کله کفر ته. کله د مسلمانانو په صف کی ودریږی او کله بیا د کفارو له لستوڼو سرونه راوباسی( خو په حقیقت کی ګمراهان دی) او څوک چې ( د خپلو مفسدو عقایدو او ناوړو اعمالو له امله) د الله تعالی له خوا بې لارې شی، ته به ورته هیڅکله (د هدایت او نیکمرغئ) لاره پیدا نه کړې.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينًا ﴿١٤٤﴾

**اى مؤمنانو! هيڅكله د مؤمنانو په مقابل كې، كافران په دوستئ مه نيسئ، آيا غواړئ ( په دغه عمل سره د خپل منافقت سند) پخپل لاس، د الله تعالى حضور ته وړاندې كړئ؟**

إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ
نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾

**بيشكه چې منافقين به د دوزخ په تل( يعنى تر ټولو لاندې طبقه كې) پراته وى او ته به ورته هيڅ مرستندوى و نه مومې( چې د دوى چيغې سورې واورى) او له عذابه يې خلاص كړى.**

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ
لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿١٤٦﴾

**خو هغه كسان به له عذابه خلاص وى چې( په دنيوى ژوند كى يې له نفاق نه) توبه ويستى وى،( خپل نيتونه اواعمال يې) اصلاح كړى وى، د الله تعالى احكام يې په ځان منلى او تطبيق كړى وى او خپل دين او عبادت يې په پوره اخلاص سره يوازې د الله تعالى ذات ته وقف كړى وى، نو دوى د مؤمنانو په ډله كى شميرل كيږى، او زر ده چې الله تعالى به مؤمنانو ته لو ى اجر وركړى.**

مَّا يَفۡعَلُ ٱللَّهُ بِعَذَابِكُمۡ إِن شَكَرۡتُمۡ وَءَامَنتُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
شَاكِرًا عَلِيمٗا ﴿١٤٧﴾

**(اى بشرى پركنو!) الله تعالى ستاسو ربړولو او عذابولو ته څه احتياج لرى( او ولې عذاب دركړى خو په دې شرط) كه تاسو د الله تعالى( د نعمتونو او مهربانيو شكريه په ځاى كړى او ايمان راوړى.( باور ولرئ چې) الله پاك (د خپلو بندگانو د عبادت او طاعت) شكر منونكى او( د هر چا په نيت او عمل) پوه ذات دى.**

==================

۞ لَّا يُحِبُّ ٱللَّهُ ٱلۡجَهۡرَ بِٱلسُّوٓءِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ إِلَّا مَن ظُلِمَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًا عَلِيمًا ﴿١٤٨﴾

الله تعالی دا نه خوښوی چې (انسانان دې د يو بل عيبونه په ډاګه کړی) او بد رد دې ورته ووايی خو يوازې هغه چاته چې ظلم وربان‌دې شوی(اجازه ده چې د ظالم له لاسه شکايت وکړی او ظلم يې بيان کړی) او الله تعالی( د مظلوم د دعا) اوريدونکی او(د ظالمانو له اعمالو نه) ښه خبر دی.

إِن تُبۡدُواْ خَيۡرًا أَوۡ تُخۡفُوهُ أَوۡ تَعۡفُواْ عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا ﴿١٤٩﴾

که د خير کار ښکاره وکړی که په پټه، او د نورو له بديو نه تير شی او ښښنه ورته وکړی( نو د الله تعالی خوښی به تر لاسه کړی). الله تعالی هم ډير ښښونکی او هم قدرتمند ذات دی( چې د کامل قدرت او تسلط سره سره، خپلو بندګانو ته ښښنه کوی، نو تاسو ته هم ښايی چې د قدرت او لاس بری په وخت کې له انتقام اخستو نه تير شی).

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾

کوم کسان چې د الله پاک او د هغه د پيغمبرانو له حقانيت نه منکريږی او په الله باندې د ايمان او په پيغمبرانو باندې د ايمان ترمنځ تفرقې ته قايل دی، او وايی: په ځينو پيغمبرانو ايمان لرو او په ځينو يې نه لرو( يا وايی: خدای منو خو پيغمبران نه منو) او غواړی د ايمان او کفر ترمنځ يوه بله لار( او ځانګړی مذهب) رامنځته کړی.

أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ﴿١٥١﴾

دا خلک بيله شکه کافران دی او مونږ د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تيار کړی دی.

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَلَمۡ يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ أُوْلَٰٓئِكَ
سَوۡفَ يُؤۡتِيهِمۡ أُجُورَهُمۡۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿١٥٢﴾

او هغه کسان چې په الله تعالی او د هغه په رسولانو يې ايمان راوړی او د هغوی ترمنځ( په ايمان راوړلو کې ) جدايي نه راولی، نو ډير زر به ورته اجر او ثواب ورکړی شی او الله پاک ببښونکی او مهربان ذات دی.

يَسۡـَٔلُكَ أَهۡلُ ٱلۡكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيۡهِمۡ كِتَٰبٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِۚ فَقَدۡ سَأَلُواْ
مُوسَىٰٓ أَكۡبَرَ مِن ذَٰلِكَ فَقَالُوٓاْ أَرِنَا ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡهُمُ
ٱلصَّٰعِقَةُ بِظُلۡمِهِمۡۚ ثُمَّ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ
فَعَفَوۡنَا عَن ذَٰلِكَۚ وَءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ سُلۡطَٰنٗا مُّبِينٗا ﴿١٥٣﴾

اهل کتاب(په نامعقوله توګه) ستا نه غواړی چې له آسمانه په دوی يو کتاب نازل کړه. (د د وی دغه استهزا او سرکشئ د تعجب وړ نه ده) ځکه د دوی پلرونو لا له دې هم ستره غوښتنه له موسی نه کړې وه، او ورته يې ويل چې مونږ ته الله را مخامخ کړه( که نه مونږ ستا خبره نه منو). د دغه ظلم له امله په هغوی آسمانی تکه راپريوته( او ټول يې هلاک کړل). بيا د څرګندو او عظيم الشأنه معجزو له ليدلو سره سره، د خوسکی په عبادت کې مصروف شول،خو مونږ د دوی له دې ټولو سترو ګناهونو ورتير شو او د دوی توبه مو قبوله کړه او موسی ته مو څرګند بری ورپه برخه کړ.

وَرَفَعۡنَا فَوۡقَهُمُ ٱلطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمۡ وَقُلۡنَا لَهُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا وَقُلۡنَا لَهُمۡ
لَا تَعۡدُواْ فِي ٱلسَّبۡتِ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ﴿١٥٤﴾

او په هغوی مو د طور غر راپورته( او د تهديد لپاره راځوړند) ونيو ( چې بايد د تورات په احکامو عمل وکړی) او ورته مو وويل چې د( بيت المقدس يا ايليا) د ښار په دروازه به سجده کوونکی ( يعنی په خشوع او خضوع) ننوزئ، او ورته مو امر وکړ چې د شنبې په ورځ به( د کبانو ښکار نه کوئ او) له الهی فرمان نه به سر نه غړوئ، او له هغوی نه مو( د دې ټولو اوامرو د تعميل لپاره ) ټينګه وعده واخسته.

فَبِمَا نَقۡضِهِم مِّيثَٰقَهُمۡ وَكُفۡرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتۡلِهِمُ ٱلۡأَنۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقّٖ
وَقَوۡلِهِمۡ قُلُوبُنَا غُلۡفُۢۚ بَلۡ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيۡهَا بِكُفۡرِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُونَ إِلَّا
قَلِيلٗا ١٥٥

نو چې خپل تعهدات يې مات کړل، د الله تعالى له آيتونو منکر شول، په ناحقه يې پيغمبران ووژل او دا يې هم ويل چې زمونږ زړونه په پردو کې نغښتی( د الله تعالی له قهر او غضب سره مخامخ شول). بلکه الله تعالی د دوی د کفر په مقابل کې، د دوی په زړونو مهرونه لګولی، او همدا وجه ده چې له لږ شمير نه غير يې، نور تول د ايمان له نعمت نه محروم دی.

وَبِكُفۡرِهِمۡ وَقَوۡلِهِمۡ عَلَىٰ مَرۡيَمَ بُهۡتَٰنًا عَظِيمٗا ١٥٦

او(په دوی باندې، د الله تعالی د قهر يوه وجه دا هم وه چې) د کفر لاره يې ونيوله او په مريم باندې يې لوی دروغ او تومت وتاړه.

وَقَوۡلِهِمۡ إِنَّا قَتَلۡنَا ٱلۡمَسِيحَ عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا
صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُۚ مَا لَهُم
بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ١٥٧

او( په غرور سره يې) ويل چې مونږ خو د الله پيغمبر عيسی ابن مريم ووژه، حال دا چې نه يې هغه وژلی و، او نه يې په دار ځړولی و( بلکه د هغه په څيره يې بل سړی ووژه او بيا په خپل قاتلانه اقدام کی ) مشتبه او متردد شول( چې عيسی يې وژلی که بل څوک؟) او له تولو هغو کسانو سره چې د هغه د قتل په باب يې سره اختلاف پيدا شو، د ګومان او اټکل نه غير ورسره هيڅ معلومات نشته،او باوری خبره دا ده چې هغه يې نه دی وژلی( بلکه د هغه په رنګ او څيره يې بل سړی وژلی دی).

بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيۡهِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ١٥٨

بلکه هغه، الله تعالى خپل حضور ته پورته کړ، او الله تعالی نه ماتيدونکی قدرتمند او حکيم ذات دی.

وَإِن مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤۡمِنَنَّ بِهِۦ قَبۡلَ مَوۡتِهِۦۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكُونُ
عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا ١٥٩

**او(كله چې عيسى  عليه السلام له آسمانه راكوز شى) ټول اهل كتاب به وربانديې ايمان راوړى( او اعتراف به وكړى چې هغه نه وژل شوى، او نه په دار ځړول شوى و)، او د قيامت په ورځ به عيسى عليه السلام ګواهى وركړى( چې يهوديانو زما له رسالت نه انكار كړى او عيسويانو د خداى د زوى په نوم ياد كړى يم ).**

فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ
وَبِصَدِّهِمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرٗا ١٦٠

**د هغه ظلم له امله چې يهوديانو كاوه په تيره بيا چې زياتره خلك يې د الله پاك له لارې منع كول،( مونږ هم) په هغوى باندى ټول هغه پاك شيان حرام كړل چې پخوا ورته حلال وو.**

وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِۚ وَأَعۡتَدۡنَا
لِلۡكَٰفِرِينَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٦١

**(او ځكه مو وربانديى حلال شيان حرام كړل) چې دوى سود اخست، سره له دى چې ورنه منع كړى شوى وو،او په ناروا توګه يې د خلكو مال او شتمنى لوټولې، او مونږ د كافرانو لپاره دردوونكى عذاب تيار كړى دى.**

لَّٰكِنِ ٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ مِنۡهُمۡ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ
أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَۚ وَٱلۡمُقِيمِينَ ٱلصَّلَوٰةَۚ وَٱلۡمُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ
وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ أُوْلَٰٓئِكَ سَنُؤۡتِيهِمۡ أَجۡرًا عَظِيمًا ١٦٢

**خو د دوى  له ډلې به هغو كسانو ته چې په علم كتاب باندې ټينګ او ثابت ولاړ دى، او مؤمنانو ته چې ايمان يې راوړى په هغه كتاب( قرآن) چې په تا نازل شوى او په هغو كتابونو چې ستا نه وړاندې نازل شوى او لمونځونه كوى او زكاتونه وركوى او په الله تعالى او د آخرت په ورځ ايمان لرى، ډير زر ستر اجر وركړو.**

۞ إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ
وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ
وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا
دَاوُۥدَ زَبُورٗا ﴿١٦٣﴾

**اى پيغمبره! بيشکه چې مونږ تا ته وحي وکړه( او قرآن او شريعت مو درته د وحې په وسيله نازل کړ) لکه څنګه چې مو نوح او له هغه نه وروستيو پيغمبرانو ته وحي کړې وه او څنګه چې مو ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او د يعقوب اولادې ته (څوک چې د نبوت مستحق وو) او عيسى، ايوب، يونس، هارون او سليمان ته وحي کړې وه او داود ته مو زبور ورکړى و.**

وَرُسُلٗا قَدۡ قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ وَرُسُلٗا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ
عَلَيۡكَۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ﴿١٦٤﴾

**او زيات شمير پيغمبران مو( د خلکو د هدايت لپاره) استولى چې د ځينو د ژوند حال يې مونږ تاته بيان کړى او د زيات شمير حال مو لا تر اوسه تا ته نه دى تشريح کړى، او موسى( ته د وحې طريقه دا وه) چې الله تعالى ورسره( د حجاب تر شا مستقيمې او بې واسطې) خبرى وکړې.**

رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ
ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا ﴿١٦٥﴾

**دا پيغمبران(مؤمنانو ته د ثواب او اجر) د زيرى ورکوونکو او ( کافرانو ته د عذاب) د اخطار ورکوونکو په حيث استول شوى، تر څو د رسولانو له استولو وروسته بيا خلکو ته څه عذر او بهانه پاتې نشى. بيشکه چې الله تعالى برلاسى مقتدر ذات دى( او تولې چارې يې په کامل حکمت روانې دى).**

لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشۡهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيۡكَۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلۡمِهِۦۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
يَشۡهَدُونَۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ١٦٦

خو الله تعالی ګواهی ورکوی چې قرآن یې په خپل خاص علم سره په حقه او( د خپلو بندګانو د خیر او مصلحت لپاره) تا ته نازل کړی، او ملائکې هم ستا د نبوت په حقانیت ګواهی ورکوی او بیشکه چې د الله تعالی ګواهی کافی او(تر ټولو موثقه او معتبره ده.)

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ قَدۡ ضَلُّواْ ضَلَٰلَۢا
بَعِيدًا ١٦٧

هغه کسان چې هم پخپله کافران دی او هم نور خلک ( په تبلیغ او تهدید) د الله تعالی له لارې منع کوی، په حقیقت کی تر ټولو ستر ګمراهان او منحرفین دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَظَلَمُواْ لَمۡ يَكُنِ ٱللَّهُ لِيَغۡفِرَ لَهُمۡ وَلَا لِيَهۡدِيَهُمۡ
طَرِيقًا ١٦٨

بیله شکه هغه کسان چې کافران شوی او ظلم یې کړی( تر هغه چې پخپل کفر ولاړ وی) الله پاک ورته، نه ښښنه کوی او نه یې( د جنت) په لاره برابروی.

إِلَّا طَرِيقَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ١٦٩

بلکه د دوزخ په لاره یې ورسیخوی چې هلته به تل تر تله اوسی او دا کار د الله پاک لپاره ډیر آسان دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُمُ ٱلرَّسُولُ بِٱلۡحَقِّ مِن رَّبِّكُمۡ فَـَٔامِنُواْ
خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ وَإِن تَكۡفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ
عَلِيمًا حَكِيمٗا ١٧٠

ای بشری پرګنو! دا پیغمبر تاسو ته د رب له لوری در استول شوی او تاسو ته یې حق دین وړاندې کړی نو که( د ژوند فرصت غنیمت وګڼئ او) ایمان ورباندې راوړئ ستاسو لپاره ډیره غوره ده.او که مخ واړوئ او د

کفر لاره ونیسی نو پوه شئ چې الله پاک ستاسو له ایمان نه بې نیازه دی، ځکه چې د آسمانونو او ځمکې مالکیت او سلطنت د الله تعالی دی او الله تعالی د خپلو بندګانو( په اعمالو) پوه او حکیم ذات دی.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿١٧١﴾

ای اهل کتابو! په خپل دین( او د انبیاو په تعریف) کی مبالغه مه کوئ، او الله تعالی ته له حق نه غیر بله خبره( او صفت)هم مه منسوبوئ.حق خبره دا ده چې عیسی ابن مریم د الله رسول او د هغه له خوا د(کن) فرمان و، چې مریم ته یې واستاوه،او د الله جل جلاله له لوری یو روح و، نو په الله او د هغه په رسولانو ایمان راوړئ او مه وایئ چې خدایان درې دی. ستاسو لپاره غوره دا ده چې له دې ډول خبرو، لاس واخلئ. حقیقت خو دا دی چې الله تعالی واحد لا شریک ذات، او د ځوی له شتون نه پاک او منزه دی. د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات، د هغه (مخلوقات) دی او الله تعالی (د خلقت د ټولو چارو د انتظام لپاره) پوره کفایت لری.

لَّن يَسۡتَنكِفَ ٱلۡمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبۡدٗا لِّلَّهِ وَلَا ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ٱلۡمُقَرَّبُونَۚ وَمَن يَسۡتَنكِفۡ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَيَسۡتَكۡبِرۡ فَسَيَحۡشُرُهُمۡ إِلَيۡهِ جَمِيعٗا ﴿١٧٢﴾

نه مسیح له دې حقیقته انکار کوی چې هغه د الله تعالی بنده دی، او نه د الله مقرب ملائک د الله تعالی له بندګی سر غړونه کوی. او څوک چې د الله پاک له بندګی  او عبادت نه سرکشی وکړی او ځان ورته لوی ښکاره شی، نو ټول به د الله تعالی په حضور کې احضار او( ځواب ورکوونکی وی).

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ
وَيَزِيدُهُم مِّن فَضْلِهِۦۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ٱسْتَنكَفُواْ وَٱسْتَكْبَرُواْ
فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا
وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧٣﴾

**کومو کسانو چې ایمان راوړی او نیک عملونه یې کړی، الله تعالی به ورته پوره اجر ورکړی او لا زیات فضل او مرحمت به هم وربانديٍ ولوروی، خو څوک چې سرکشی او تکبر وکړی، په دردناک عذاب به اخته شی او د الله تعالی په مقابل کی به، د ځان د دفاع لپاره هیڅ کار جوړوونکی او ملاتړی هم پیدا نه کړی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُم بُرْهَٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ نُورًا
مُّبِينًا ﴿١٧٤﴾

**ای بشری ېرګنو!(محمد صلی الله علیه وسلم) تاسو ته ستاسو د رب له لوری د حجت په حیث درغلی ( چې په پخپل عملی سیرت او تشریعی دعوت سره، تاسو ته د ایمان او اسلام حقیقت تشریح کړی) او( قرآن) مو تاسو ته د روښانه نور په حیث درواستاوه ( چې باید د هغه په وسیله د هدایت په لاره روان شی).**

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعْتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِى
رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿١٧٥﴾

**نو هغه کسان، چې په الله تعالی ایمان راوړی( او د مبارک قرآن) د احکامو متابعت کوی ،الله تعالی به ورته د خپل رحمت او فضل په سیوری کی ځای ورکړی او (د الهی هدایت) په مستقیمه لاره به یې رهی کړی.**

يَسۡتَفۡتُونَكَ قُلِ ٱللَّهُ يُفۡتِيكُمۡ فِي ٱلۡكَلَٰلَةِۚ إِنِ ٱمۡرُؤٌاْ هَلَكَ لَيۡسَ لَهُۥ
وَلَدٞ وَلَهُۥٓ أُخۡتٞ فَلَهَا نِصۡفُ مَا تَرَكَۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمۡ يَكُن لَّهَا
وَلَدٞۚ فَإِن كَانَتَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَۚ وَإِن كَانُوٓاْ إِخۡوَةٗ رِّجَالٗا
وَنِسَآءٗ فَلِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۗ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ أَن تَضِلُّواْۗ
وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ١٧٦

(ای پیغمبره! خلک ستا نه د میرات شخص) کلاله د میراث د تقسیم په باب، فتوی غواړی. ورته ووایه: الله تعالی تاسو ته حکم کوی چې که یو تن مړ شی، نه ترې اولاد پاتی شی( او نه پلار) او صرف یوه خور ولری، د ترکه شوی مال نیمه برخه باید هغې ته ورکړی شی.( او که کومه ښځه مړه شی) او ځوی و نه لری، نو ورور یې د هغې د ټول میراث مستحق ګڼل کیږی( خو که ځوی ولری نو ورور ته هیڅ برخه نه رسیږی). او که له مړی نه، دوه خویندې پاتې شی نو د ټول میراث له دریو برخو نه دوه برخې به دواړو ته ورکول کیږی، او که ډیر وروڼه او خویندې وی نو بیا هر نارینه د دوو ښځو د برخو مستحق دی. الله تعالی (خپل احکام او مقررات) تاسو ته په روښانه توګه بیانوی، تر څو( د میراث په ویش کې تیروتنه و نه کړئ او) بې لارې نشئ او الله تعالی په هر څه پوه دی( او د انسانانو اعمال او افعال، ښیګڼې او مصالح ورته ډیر ښه معلوم دی).

« تمت سورة النساء بفضل الله و رحمته»

=======================